2
Copy
2951

پریشانه افکار :

چغل گر ته :

لاس دی تور
مخ دی په تور

دسپینو خلکو سپینی لمنی مه توروه،

ستا تور لاسونه ټول خلك وینی اوستا تور نیت هم هرچاته معلوم دی ،نو خپل تور دنورو په سپینو لمنو مه پټوه ... ته په ډیرو تورونو توربی ، خپل تور په بل چاپوری مه تړه ، ته پخپله آینه کی بل چاته مگوره خا نته و گو ره ، ته که پخپل لاس خپل مخ توروې ؛ داستا خپله خوښه ..خوخدای ته و گوره دنورو سپینی لمنی مه تو ر وه .

هغه زما نه ولاړه چه ته خپل تور لاس دنورو په سپینو جامو پاك کړې ، خلك ستا تور لاسونه هم وینی اودنو رو سپینی جامې هم ... نور د خلکو دغولولو کوشش مکوه ...

چغلگر دخدای دښمن دی ، تا په څه دخدای دښمنۍ ته ملاتړلې ده ؟ دیوهٔ نس دپاره ؟ داخوډیره پستی ده ... یوشریف انسان داپستی منلی نشی ؛

ستاله سترگو دبغض اوعناد اوغرور اورونه غورزی ، مگر دغرور کاسه ډیره ژر نسکورېږی ؛ نن ته کولای شې پخپلو تورو لاسونو ډیر سپین کالی تور کړې اوخلکوته ئې هم تور وښیی ، خوهغه وخت چه ستا د غرور کاسه نسکوره شي هغه وخت به ته دمچ په شان دحسرت تور لاسو نه پخپل مخ پو ری موږې او دنورو د کالیو په ځای به دی خپل مخ تور کړ ی وی ، نو بیا به هرڅوك درته وا یی :

لاس دی تـور
مخ دی په تور!!

(بینوا)

کابل

د پشتی لومړی مخ د تاج بیگ تپه په نوی کابل کی ده

د ۱۳۲۹ش کال د جدی (۱) د ۱۳۷۰ق ه کال د ربیع الاول (۱۳) د ۱۹۵۰ع کال د دسمبر (۲۳)

(۲۰) کال (۲۷۹ گڼه)

ادبی، اجتماعی، تاریخی

پښتو ورځنۍ مصوره مجله

کابل

چلوونکی:

عبدالروف «بینوا»

پته، پښتو ټولنه، دابن سینا واټ
تلګرافی پته: کابل، پښتو ټولنه
د تیلفون نمبر ۱۰۴۷

اشتراک

د کابل په ښار کښې	۳۶ افغانۍ	په دننه هېواد کښې	۴۰ افغانۍ
د باندې ملکونو کښې	۴ دالره	د ښوونځیوزده کوونکو ته	۱۸ افغانۍ

د پښتو ټولنې له خوا نشرېږي

ددې کښې لیکونه

لیك	لیکوال		مخ
لاس دې تور مخ دې په تور	ښاغلی	بینوا	دپښتې په دویم مخ کی
دپښتو لغوی تطور	«	حبیبی	۱ مخ
پښتو په لیك سکسس کی	«	عبدالقدوس پرهیز	۶ «
دپښتنو دبیدارۍ عوامل	«	رو هیلی	۹ «
دزړه خوږ	«	خادم	۱۱ «
دپښتونستان لحلمی شاعر	«	اداره	۱۰ «
غلیمه	«	سید احمد گلزاد	۱۶ «
په امریکا کی دقلم آزادی			
څنگه تامین شوه	«	شفیق	۱۷ «
دغریب مړی	«	دلوی پښتون له مجلې څخه	۲۰ «
دغاښوساتنه	«	محمد نبی کهزاد	۲۱ «
شیطان	جبران خلیل جبران لیکنه		
	مترجم سیفی		۲۳ «
دپښتو ادبیا تو تاریخ	ښاغلی حبیبی		۹۳ تر ۱۰۰
لحوان مرگ شپون	« غلام محی الدین اوبی دپشتې په دریم مخ کې		

ژب پوهنه :

ښاغلی عبدالحی حبیبی :

د پښتو لغوی تطور

فقه اللغه چی په اروپائی اصطلاح ئې فیلالوژی او په پښتو ئې « ژب پوهنه » بولو ، یو خوږ علم دی ، او ډېر دقیق مباحث لری ، او د ژبو ځینی کلی قواعد او شامل او مشترک اساسونه بیانوی ، زه غواړم ، چی کله کله د دې علم ځینی مباحث د کابل مجلې لپاره د پښتو ژبی له تطبیقاتو سره ولیکم ، چی هم د مجلې علمی رنګ خوندی شی ، او هم ځینی ذوقمندان مخصوصاً دادبیاتو د فاکولتې شاګردان دغه ولولی . په دې مقاله کې به زه د ژبی پر تطور لنږ څه بحث وکړم :

تطور اوښتلو ته وائی ، چی یو شی له یوه شکله په بل ډول واوړی ، په فقه اللغه کې تطور هغه تدریجی تحول او اوښتنه ده ، چی په ډېرو زمانو کې د کلماتو ظاهری شکل او معنی ته ورپېښېږی .

لکه ژوندی موجودات چی د ژوندانه په مختلفو دورو کی نوی اشکال مومی ، او د تکامل په سیر کې خپل شکل ته تغییر ورکوی ، لغات او کلمات هم دغسی اوړی ، او تر مخصوصو قواعدو او شرایطو لاندې تبدیلېږی ، او لکه نور موجودات تل د تدریجی تحول ، او انتخاب طبیعی او بقای اصلح تر اساسو لاندی تغییر مومی . سیاسی حوادث او انقلابات او طبیعی عوامل کلماتو ته نوی اشکال او نوی معانی ورکوی ، او د انسانانو د اوضاعو سره سم د محیط شرایط پر ژبو او کلماتو باندی حکمرانی کوی .

د دې خبرې د اثبات لپاره دا لاندې مثالونه ولولی :

۱- بړېڅ د پښتنو یوه معروفه قبیله ده ، له قدیمه دا کلمه پر دغه قوم اطلاق کېده ، یو وخت په دې قوم کې فتح خان بړېڅ پیدا شو ، او هند ته ولاړ ، هلته د ده سره شپیته بړېڅ ملګری وه ، نو دا مشهوره شوه ، چی فتح خان او د ده شپیته بړېڅی ولاړل ، او په هند کې ځانونه قربانی کړل . د دوی د ملګری داستان او د فتح خان او را بیا قصه مشهوره شوه ، په دې علت د بړېڅ کلمه چی صرف د یوه قوم نوم و ، هم متطوره شوه ، او وروئې د ملګری او همکار او مله معانی هم وموندل ، مګر دا کلمه په هغه ځای کې استعمالېږی ، چی یو څوک خپل مقابل او د ده ډله غندی ، نو وائی :

پلانی او د ده بړېڅی داسی او هسی کوی .....

دا د هغه تطور مثال و ، چی اصلی کلمه پاته وی ، مګر په معنا کې پر مخصوص ځای لنږ څه تحول راغلی وی . د دغه ډول تطور مثال د (شاهد) کلمه ده ، چی په عربی کې د لیدونکی په معنا و د شهود له ریښې څخه ، مګر په پارسی کې وروسته د معشوق او محبوب مفهوم وموند ، د شاهد شرعی او فقهی معنا بېله ده ، او لغوی معنائې بله ده ، خو د پارسی د شاعرانو شاهد بل څوک دی . حافظ وائی :

در کار گلاب و گل حکم ازلی این بود کان شاهد بازاری وین پرده نشین باشد

د پارسی دهقان کلمه د مغولو تر عصره هم پر آریائی نجیب زادګانو ، او د مځکو او کلو پر مشرانو اطلاقېده ، د هر ځای مشرته ئې دهقان وایه (دهګان) عرب چی ایران ته راغلل ، د ایرانیانو ملوک طوایف ئې (دهاقین) وبلل ، ځکه چی د مځکو خاوندان دوی وه ، نو وروسته دا کلمه پر مطلق زارع او کښتګر هم اطلاق شوه ، فردوسی چی هر ځای دهقان راوړی ، مقصد ئې لومړی قدیمه

زگفتار دهقان بیاراستم بدین خویشتن رانشان خواستم

مگر اوس دا کلمه زموږ په پارسو کې په دوهمه معنا معروفه ده ، او په پښتو کې ددې کلمې تطور بل رنګ لری ، ځکه چې پارسی ویونکی خلق اکثر زارع وه ، اوهم دهقانان ددوی مشران وه ، اودوی به پارسی ویله ، نو په پښتو کې دا کلمه مفقنه شوه ، هم صورتاً هم معناً .

پښتنو دپارسی دهکان اودعربی دهقان (دېګان) کړ (جمع ، دېګانان) دوی اوس دېګان مطلق پارسی زبان بولی ، او هرڅوك چې پارسو وائی ، دوی وائی ، دېګان دی . دپښتنو دغه مخصوصه معنا ، ګویا ددې قدیمی کلمې دریم تطور دی .

د آریائي ژبو (نماز ، لمونځ ، لمانځل) هم له دغه قسمه دی ، یخوا نماز دزردشت په مذهب کې یو مخصوص عمل و ، بیا نوداسلام دعربی (صلاة) پرځای استعمال شو ، او په پارسی یخوانی نثر کې داحترام په معنا راغلو ، دی :

مثلاً نماز (عربی صلاة پرځای) فرخی وائی :

یاد آنشب کان شمسهٔ خوبان طراز بطرب داشت مرا تا به گهٔ بانگ نماز

نماز دمطلق احترام او تکریم په معنا فردوسی وائی :

زمین را ببوسید وبردش نماز همی بود پیشش زمان دراز

(شهنامه)

گردیزی لیکی ، چون امیر را بدیدند همه نماز بردند وخدمت کردند (زین الاخبار) دغزنوی دورې نویسندگان اکثر نماز بردن داحترام په معنا استعمالوی ، بیهقی دپرلحه داسی مثالونه لری .

په پښتو کې هم لمانځل دلمانځه (صلاة) اداکولو په معنی راغلی ، اوهم مطلق احترام دی ، دوست محمد کاکړ وائی :

سپې ئې تیری په لمانځو وې په ژړا اوبه ناروې

یادا چې وائی :

یوه ورځ جهاد افضل تر کلو کلو لمانځل

دلته دصلاة معانی لری ، مگر په لاندې مثالونو کې مطلق احترام نیایش همدی ، خوشحال وائی :

خدای هغه په دواړو کونو دی نمنځلی چه په ورځ ئې عدل و داد په شپه نمنځونه

په دې دول (نماز ، لمونځ ، لمنځل ، نمونځ ، نمنځل) له یوې ریښې څخه نزدې کلمات دی ، اودعربی صلاة اومطلق احترام په دواړو معناو استعمال شوی دی ، اودلغوی تطور تر اثر لاندې راغلی دی .

۲ـ کله کله تطور داسی هم پیښیږی ، چې اصلی کلمه په هغه خیل اصل شکل له منځه ووزی ، اوله هغې ریښې څخه په بل شکل بله کلمه په بله معنا راووزی لکه :

(پارثوا) په قدیمه زمانه کې یو خراسانی قوم و . دا کلمه په څو زره کاله کې سره وسولیده ، اوپه پای کې د (پهلوان) کلمه له دغې ریښې څخه پیدا شوه ، چې په پارسو کې معنا دلاور اوشجاع ده ، فردوسی وائی :

یکی پهلوان بود ، دهقان نژاد دلیر وبزرگ وخرد مند وراد

په پښتو کې دداسې تطور مثالونه ډېر دی ، مثلاً (پاڅ) اصلاً (ورم ـ بندیدن) و ، یخیله

په مجرد ډول اوس دا کلمه نه استعمالیږی ، خو ریښې ئې په (پاړسوب) او (سر پاږی) کې پاته دی ، چې په پارسی (کله چرك) ورته وائي .

(ښکلا) یخوا (جمال) و ، ترمتوسطینو پوری لا دغه کلمه ژوندی وه ، مگر وروسته نه استعماله ولوېده ، اوهرځای ئې (ښکلی) د (جمیل اوزیبا) په مفهوم تراوسه پاته دی .

۳ـ کله کله دتطور په میدان کې یوه کلمه بالکل مری ، اوهیڅ اثر ئې په ژبه کې نه پاتیږی ، مثلاً په یخوانی پارسو کې (پاژ) یوه مخصوصه مذهبی زمزمه وه ، او (برسم) هم دنری لرگی دسته وه ، چې دغه دواړه په زردشتی مذهب کې استعمالیده ، لکه :

پرستندهٔ آتش زردهشت همی رفت با پاژ و برسم بمشت

اوس دغه دواړی کلمې مړې دی . دپښتو (پنځ) یعنی خلقت (اتل) یعنی پهلوان (من) یعنی (اراده) مخسور (سرخروئی) پلن (پیاده) اونور ډېر کلمات چې زرکاله یخوا ژوندی وه ، اودقدماو په اشعارو کې راغلی دی ، اوس مړه دی ، اودژبی تطور دا کلمات له منځه ایستلی دی .

٤ـ کله کله یوه کلمه خپله زړه معنا هم ساتی ، او دمحیط له تطوره سره سم یوه بله نوې معنا هم مومی ، ددې مثال په پارسی کې (شوخ) دی ، چې په یخوانی ادب کې د (چرك) معنا درلوده ، بیانو دگستاخ په معنا وگرزېد ، وروسته ئې ددلبر اونازك طبع معانی هم وموندل .

دلومړی معنا مثال لکه خسروی چه وائی :

اگر شوخ برجامهٔ من بود چه باشد دلم ازطمع هست پاك

ددوهمې معنا مثال ، حافظ وائی :

شوخی نرگس نگر که پیش تو بشگفت چشم دریده ادب نگاه ندارد

ددریمې معنا مثال ، نظامی وائی :

شوخی که به غمزهٔ کمینه سفتی نه یکی هزار سینه

٥ ـ کله کله ژبه مستقیماً د خپل احتیاج په سبب له نورو ژبو څخه کټ مټ بعضی کلمات اخلی ، اوعیناً ئې په هغه معنا استعمالوی . چې په دې جمله کې ټول عربی دینی او مدنی اوعلمی لغات شامل دی ، چې پښتو او پارسی دواړو ځینی اخیستی دی ، مثلاً زکوة ، حج ، قرآن ، آخرت ، مدنیت ، شکل ، معنی ، اسم ، فعل اونور ....

٦ ـ کله ژبه له بلی ژبی څخه بعضی لغات را اخلی ، اوهغه په ځان کې حل کوی ، اوپخپل رنگ ئې رنگوی ، چې د عربو په اصطلاح « معرب » ورته وائی ، او که پارسی گډ شوی وی ، مفرس ئې بولی ، موږ هم ددې اصطلاح لپاره « مفغن » جوړ کړی دی .

مفغنات په پښتو ژبه کې له هندی ژبو اوپارسی اوعربی اوتور کې څخه ډېر دی ، مثلاً دعربی قمیص په لږ تغییر (کمیس) شو ، اودې ته مفغن وایو .

دتطور عوامل

لکه چې تاسی ولوستل ، په ژبه کې تطور یوطبیعی کار دی ، چې داحتیاج له سببه ترمختلفو عواملو لاندې پرژبه راځی . لکه دانسانانو نور شیان چې تل تطور کوی ، دغې هم ژبی سره اوړی ، اوهره ژبه په تدریج ځان له نوی محیط سره سموی ، اود انسانانو په احتیاجاتو سره سم

تغییر کوی ، ځکه چی د انسان احتیاجات په هر ځای کې یو نه دی ، نو هر ځای ژبه دهغه ځای له اړتیاؤ سره سمېږی ، او هم له دغه جهته دژبو لهجې پیدا کېږی . مثلاً آریائی ژبی پخوا سره یووې ، مگر اوس ډېرې ژبې پکښې جوړې شوی ، او اشکال ئې سره مختلف دی .

که یوسړی یوه هندی ژبه واوری ، او بیا پښتو او پارسی او انگلیسی واوری ، کورټ دا گمان نه کوی ، چی دغې مختلفې ژبی به له یوې ریښې څخه راوتلی وی ، مگر فقه اللغه دا ثابتوی ، چی ددغو ژبو اصل یو دی ، ژبی ته چی کوم تطور ورپېښېږی ، تردوو عواملو لاندې دی :

۱ - طبیعی عوامل : دتطور طبیعی عوامل دغه دی : د زمانې تېریدل - جغرافیائی محیط - دانسان مزاجی اوروحی مشخصات .

دادرې عوامل په دې ډول یوله بله سره تړلی دی ، چی دانسان مزاجی اوروحی احوال دده جغرافیائی چاپېره پیدا کېږی ، یو انسان چی مثلاً : په توده هوا کې ژوندون کوی ، دده اخلاق او عادات د هغه محیط سره برابر وی ، او د ساړه محیط خلق بیا بل راز ژوندون ، نور امزجه او روحیات لری . نو لکه جغرافی محیط چی دانسان پرمزاجی اوروحی احوال اثر کاندی ، دغسې هم دزمانی مرور پرجغرافی محیط باندې اغېزې کوی . مثلاً یووخت ښائی یوجغرافی محیط یوراز آب وهوا ولری ، او ډېر بارانی او دلند بل ځای وی ، مگر ډېره زمانه وروسته ښائی چی هغه ځای وچ شی ، او د برودت او حرارت احوال ئې بالکل الیش سی . نو هغه تعابیر چی په یوه لانده ساړه ځای کې دژبی لپاره لازم وه ، په وچ تاوده ځای کې ضرورت نلری ، له دې جهته باید هغه تعابیر او لغات او کلمات ورک شی ، او پر ځای ئې دا وږدې زمانې په تېریدو نور ضروری او حیاتی تعابیر او کلمات ودرېږی . مثلاً په پښتو کې ددېرې اقسام خورا ډېر نومونه لری ، او د پښتنو د جغرافی محیط اثر دی ، ځکه چی دوی په غرو کې ژوند کاوه ، او هلته ډېرې ډېرې وې ، لاښ ، پرښه ، کرکنډه ، ډبره ، سخر ، کاڼی ، تېږه ، شگه ، گوسه ، غرگی ، شاځه ، او نور د ډبرو داقسامونو مونه سته ، مگر د (ریگ) لپاره دوی یونوم درلود ، چی اوس مهجور او متروک دی ، او ښائی چی دا نوم هغه وخت ډېر معروف ؤ ، چی پښتنو دقندهار جنوب ته ترسیستانه په ریگستان کې ژوندون کاوه ، دا نوم (سال) دی .

۲ - غیر طبیعی عوامل : چی سیاسی ، دینی ، فنی ، علمی علل دی ، او دا ټول هم په ژبو کې ځینې تطورات پیدا کوی ، له ژبی څخه ځینی لغات باسی او ځینی په ننباسی .

په دغو عواملو کې هم زمانه ډېر اثر لری ، سیاسی انقلابونه ، او مذهبی تحولات ، او د علومو او فنونو تکامل په اوږدو زمانو کې پېښېږی .

دتطور اشکال

لکه چی وموویل : ژبی ترطبیعی او غیر طبیعی اسبابو لاندې تطور کاندی ، او نوی کلمات او لغات او تعابیر او معانی پکښې موندل کېږی ، دلغوی تطور ځینی عمده او مهمی لیارې دغه دی :

(۱) : د کلماتو د شکل اوښتنه (۲) : د کلماتو د گردی معنی اوښتنه (۳) : د کلماتو د یو څه معنی اوښتنه (٤) : د یوه لغت اوښتل په بل لغت (٥) : د یوه لغت بالکل ورکېدل (٦) : له نورو

ژبو څخه ځینی کلمات په بله ژبه ننوتل . لاندې به ددغو شپږو لیارو شرح واروی :

۱ - کلمات څنګه خپل شکل اړوی ؟

دپخوانیو ژبو کلمات اوالفاظ درانه اوپه ویلو کې ګران اوبېډون وه ، دافعالو اونومونو حرف ئې هم مشکل ؤ ، نو انسان چې تل راحت غواړی ، د ګرانو اودرنو کلماتو له ویلو ژبه خلاصوی ، اوهغه آسانه کوی ، ثقل په سپکه تبدیلوی ، اود ژبی ځینی قیود لـه منځه باسی .

له پخوانی پارسی اواوستا څخه اوسنی پارسی پیدا شوې ده ، پخوانې پاچا (خشاثیه) باله ، لهدې درانه نامه څخه (شاه) سپکه کلمه وزېږېده ، اوارتخشتر نوم په (اردشیر) سپک نامه بدل شو داوستا نومونو علاوه پرتذکیر ، تأنیث ، افراد ، تثنیه ، جمع نوراثـه حالته درلوده ، چې دغه حالات ئې په پارسی کې ورک شول ، اوژبه ساده اوآسانه شوه ، دغسې تحولات په ژبو کې په لاندې ډولو پیدا کېږی :

الف: د کلماتو تراش خوړول : چه ځینی اصوات له منځه ور کېږی یعنی نه ویل کېږی ځکه چې دهغو اصواتو ویل ګران وی ، مثلاً په انګلیسی کې Night نائت شپه ده ، چې دمنځ Gh دوه حرفه ئـې نه ویل کېږی ، اوتراشل شوی دی ، د پارسی (و) معدوله هـم دغسې دی ، لکه په خوان کې چې نه ویل کېږی . په پښتو کې همدغسې کلمات ډېر دی ، چې سپک شوی دی ، لکه هډډېره چې (هدیره) وایو ، یالاس تونی چې (لستونی) بولو . یووخت (هسك) آسمان ؤ ، بیایو (من) ورسره زیات شو ، هسکمن اودا کلمه سپکه شوه ، (آسمان) ځینی جوړ شو ، سوار په پهلوی کې (اسپ وار یااسپ بار) ؤ ، اوپه پښتو کې (اسپه وری) ؤ ، چه وروسته لهدې نه (سپور یاسور) جوړ شو . د پهلوی ژبی اکثر لغات په پارسی کـې سپک شول ، مثلاً پرستوك ، = پرستوشو ، داناك = داناشو ، سمب = سم ، اودمب = دم شو . اپاك = با ، او اپر = بـر ، اواشناك = آشنا شو .

ب : دمخارجو له منځه وتل : دځینو حروفو مخارج دزمانې په مرور اوړی ، اوداهم دجغرافی عواملو اثر وی ، مثلاً دآب وهوا اوښتل ، دانسان مزاج اوعضلات اواعضاء سره اوړی ، لهدې جهته ځینی اقوام بعضی اصوات اداء کولای شی ، اوځینی ئې نشی ادا کولای .

کله یوقوم په یوه راز آب وهوا کې ژوند کوی ، چې لههغه ځایه ولاړ شی نونوی جغرافـی محیط پردوی اثر وکړی ، اودځینو حروفو اصوات بلراز شی ، مثلاً انګلیسان چې له انګلستانه امریکا ته ولاړل ، ددوی په ژبه کې یوتحول پیداشو ، اود ځینو حروفو مخارج بلراز شول ، چې دانګلستان له لهجې څخه ډېر فرق لری ، په اوستا کې ځینی مخارج وه ، چې اوس په پارسی کې نشته ، لکه (ڼ) اومشد د (ش) چې دا دواړه اوس په پښتو کې د (ڼ ، ښ) په اصواتو موجود دی ، اودپښتو ځینو حروفو مخارج هم په مختلفو محیطو کې اوښتی دی ، لکه (ږ ، ښ) چې دکسې غره پرهاخوا (ژ ، ش) ته نزدې آوازونه لری ، اوبیادرنېږی ، څوچې (ګ ، خ) ته په خیبر کې رارسېږی ، اوداهم خاص دجغرافی محیط اثر دی .

کله یوقوم له بلقوم سره ګډشی ، اودګډون په اثر ځینی مخارج له ژبی ووزی ، یانوی یکښې پیداشی ، مثلاً د(ق ، ح)مخارج چې دعربو دآمیزش په سبب په آریائی اقوامو کې پیداشول ، اصلا ددوی په ژبو کې نه وه ، پښتانه په ننګرهار کې (ق) په خورا عربی ډول ادا کوی ، پرقېدل وائی (نور بیا)

ښاغلی عبدالقدوس پرهېز

پښتو په لیک سکسس کی

دا کتوبر دمیاشتې څلریشتمه چه ددنیا دمتحده قومونو دعمومی غونډې ورځ یادېږی او کال په کال دمتحده قومونو لهخوادې مهمی ورځې ته به خورا درنه ستر که کتل کیږی لکه چه څه موده مخکې پههمدغه اساس دهمدغه ورځې پهیاد په لیکسکسس کی دمتحده قومونو لهپلوه تلین نیولشوی و. د کومې ورځی نهچهددنیا قومونو ددنیا دامنیت ساتلو پهغرض لاسونه یو کړی او په کارئی بیل کړی دی نو خپل تول کارونه اواجراآتئی ددنیا دتولو خلکو دډاډ اواطمینان دپاره پهتولو ژوند وژ بو چاپ اونشر کړیدی . په دغه سلسله کې دمتحده قومونورابور پهپښتو ژبههم نشر شوی دی چه دبرې پارچې ئی دافغانستان رسمی ادا روته را رسیدلی دی، داراپور چه مونږ و لوست پهښه سلیسه اوروانه پښتو لیکل شوی دی اوپوره زیار پکې ایستل شوی دی .

په لیکسکسس کې دمتحده قومونو نمایند ګانوته څرګنده شوی ده چه دافغانستان ملی ژبه پښتو ده اوخلك ئیهم اکثراً پښتانه دی نوځکه ئی دافغانستان د پاره خپل راپور په پښتو چاپ اونشر کړیدی چه دافغانستان اولس دیونو په اجرا آتوښه پوهشی اوبله داچه ددنیا ژوندی اوملی ژبې هماغسی ژوندی پاتهشوی اوتوله دنیائی په رسمیت وپېژنی، دیونو دعمومی اسامبلې غړوتهجوتهشوې دهچه دهرقوم اوملت کلتوراو ملی عنعنات اومیزات دهماغه قوم پهژبه ژوندی پاته کیدای شی که دیوه قوم ژبه مړه کیږی نودهغه قوم دتولو ممیزاتو اوملی مفاخرو جنازه سمه ور سره روانه وی، دژ بې مسئله په دنیا کې ډېره مهمه اوستره ده نوځکه د متحده قومونو نمایند ګان دې خبرې ته پوره متوجه دی، اوس دوی تهپوره څرګنده شوی ده چه افغانستان اسم با مسمی دپښتنو وطن دی، دافغان او پښتون پهمنځ کې هیڅ توپیر نشته دافغانستان تول اوسیدونکی ځانونه پښتانه ګڼی، کهځینی خلك پارسو وائی وائی به .

په لیکسکسس کې پښتو بین المللی موجودیت بیا موند مګر متاسفانه دلته د (١٥) کالو را دیخوا چهخلك پهرسمی وخت کې پښتو کورسو نوتهځی لاتر اوسه پښتونهشی ویلی، دلته داسې دیر خلك شته چه پخپله خوله دپښتو اوپښتونی دعوی هم کوی مګر

په تکی پښتو خبرنه دی، دارو پایانو، امریکا یانو روسانو، هندیانو اوعر بانو ژبی په پښتو گرځی پښتو لیکلی شی او پښتو ویلی شی مگر دلته دځینو کسانو چه په هره شیبه کې دپښتو ویونکو سره په تماس کې دی ژبې په پښتونه گرځی برعکس د دنیا په نورو ژبو ښې خبرې کولی شی مگر یوالحې هو یوالحی په پښتو نشی گرېدلای ؟!

ښه نودا ولی ؟ : ددې پوښتنی ځواب آسان دی، هرڅوك په دې ښه پوهیدای شی چه پښتو دومره گرانه نه ده چه څوك به ئی زده کولای نه شی، اونه دوی دومره پخ ذهنه دی چه دپښتو په زده کړه به بریالی نه شی لکن علت دادی چه دوی دپښتو زده کړی دپاره سمه اوټینـکه اراده نه ده کړې اونه ئی په کلك عزم دپښتوزده کولو ته ملاتړلی ده تاسې وگورئ هر پښتون په لږه موده کې پارسی زده کوی او پرې گرېږی هم، دوی په پښتو نه شی گرېدلای سبب دادی چه دومره په پښتو پسی خپل سرنه گرځوی او چرت پرې هم نه خرابوی هسی نه چه ویلی ئی نه شی یا پرې پوهېږی نه، بلکه ښه پرې پوهېږی اوویلی ئی هم شی مگر دویلو اراده ئی نه وی، دېرلاداسې هم وائی چه په پښتو پوهېږم مگر ژبه مې نه گرځی .

دپښتو دوروسته پاته کېدو بل لوی عامل دادی چه خپلو پښتنو هم پښتو ته شا کړی او پښتو ئی دخلکو په نظر سپکه کړې ده که دوی سره دخپلی ژبې داهمیت سودا ملگری وای نو پښتو به دومره وروسته پاته نه وای ؟!

پام به مو کړې وی په یوه مجلس کی به دېر پښتانه ناست وی خو چه یوه سړی په کې پارسی وویله بیاتول ورسره لگیا شی ؟ یو پښتون به دیوې ادا رې لوی آمر وی مگر هغه نشی کولای چه خپل لاس لاندې خلك په پښتو ویلو عادت کړی بلکه دی به خپل ځان مجبور گنی اودیوه پیاده سره به هم په پارسو غگېږی، که څوك ترې پوښتنه وکړی نوځواب کې وائی چه هغه پښتونه پوهېږی !

تاسې خپله جاج ووهئ چه داڅومره بده خبره ده او پـه دې وضعیت سره د ژبـې داهمیت پله څومره سپکېږی ؟

پهر صورت اعلیحضرت غازی محمد نادرشاه شهید (ر ح) چه دپښتو درسمی کـېدو فرامین صادر کړی وغرض ئی څه شی و؟ آیا هغه مظاهره کوله؟ په ، یه هیڅکله داسې نه وه، اعلیحضرت شهید نه یوالحې سرتېر عسکر و بلکه دېرلوی مدبر اوخوږا لوړ سیاستمدار

هم‌و، هغه وطندوست اوقوم پالونکی پاچاښه پوه‌شوی وچه‌دیوه ملت ترفی‌دملی وحدت نه‌پرته هیڅ امکان نه‌لری او دملی وحدت روح هغه وخت تقویه او تنمیه کیږی چه دهغه ملت خپله ملی ژبه ژوندی او تقویه شی، تر اوسه‌پوری چه‌مونږ په یوه فکر اویوه خیال په‌یوه لار نه‌یو روان‌شوی وجهه داده چه‌دیوه بل‌په ژبه سره نه پوهیږو اود زړو نو ترجمانی دپاره یوه متحده ذریعه نه لرو، مونږ خود کش اوبیگا نه پرست یو، دنورو دژبو دپاره خدمتونه کوو پکښی تالیفونه کوو مگر پښتو چه‌له‌هره حیثه پوره مستعده ژبه ده دبې التفاتی له‌امله ویلی نه شو، داوسلو خلك په اوسلو کې، د فرانسې خلك په فرانسه کې دلندن خلك په‌لندن کې اودروسیې خلك په‌روسیه کې زمونږ ملی ژبه پښتو زده کولی‌شی مگر له‌بده مرغه زمونږ ځینی ورونه ئی دلته نشی زده کولی ؟

دپښتوژبی دژوندون اورسمی کېدلو نه‌غرض دا نه‌دی چه‌بله ژبه‌دې بیخی دافغانستان څخه‌واوزی او نه‌دپښتو ویونکو دامقصددی که‌ددوی دامقصدوای نوپارسی به‌ئی نه‌زده کولای، مونږوایو چه‌پارسی اوهر څومره نورې‌ژبې چه‌په‌افغانستان کې شته‌ټولې دې‌وی‌او که‌ممکنه شوه ابتدائی تعلیم دې ټولو خلکو ته په‌خپله ژبه ورکړی شی مگرپښتو چه د افغانستان ملی ژبه ده هرسړی مکلف دی چه زده‌ئی کړی، نن په اتحاد شوروی کې (شپیته) ژبې موجودی دی او ابتدائی تعلیم هم هرقوم ته پخپله ژبه ورکول کیږی مگرروسی ژبه ئی خپله ملی اورسمی پیژندلی اودمتحده روسیې ټولو خلکو په خورا مینه او کلکه اراده زده کړی هم‌ده. داسې نه‌ده شوی چه چابه و یلی وی چه روسی ژبه گرانه ده !!!

په‌پای کې‌مونږ دافغانستان دټولو اوسیدو نکونه خواهش کووچه دبیځایه تعصبونو څخه لاس واخلی اوپښتو خپله رسمی اوملی ژبه‌وگڼی، ځکه چه‌دوی د پښتون په‌نامه یادیږی اودپښتانه محیط په آب وهوا کې لوی شوی دی، ددوی مرگ او ژوند دپښتو دمرگ اوژوند پورې تړلې دی. ددوی هرڅه پښتنوسره گډدی، څومره‌چه پښتانه دنورو دژبو احترام کوی اوورسره غګیږی نودوی هم باید د پښتو ژبې احترام وساتی که‌ئی احترام نه کوی نومخالفت خودې هم ورسره نه کوی، پښتو د افغانستان ملی او رسمی ژبه ده اوپه لیکسکس کې دمتحده قومونو نمایندگانو هم دافغانستان درسمی ژبی په حیث پیژندلی ده .

ښاغلی روهیلی:

د پښتنو د بیداری عوامل

یو وخت ؤ چه ان لادغه نننۍ اروپا چه اوس دمدنیت خورا لوړو پوړیوته رسیدلې دغفلت په خوب، کښې اوده اودځان نه نا خبره په یوڅه خرافاتو اوموهو ماتو کښې پرته وه؟ کولومبس ویل زه بحر کښې مسافرت کوم لاکن ده باندې د کافر حکم وشو اوو ویل شول چه د بحر مسافرت هیڅ امکان نلری! ولی نن؟ نن دنیا ویښه شوه اوهرچا په کارونو لاس پوری کړاو د نیکمرغۍ ډولۍ ئې خپل کاله کښې کوزه کړه! ابحارو کښې څه چه دبحرونو لاندې اوپه هوامسافرتونه شروع شول کچیرته به هغه وخت کښې یو کلمبس په بحر کښې کشتۍ روانه کړه ولی نن په زرهاؤ خلك دغه کښتۍ چلوی کچیرته کوم وخت سلیمان (ع) خپل تخت په دیوانو په هواچلولو ولی نن خدای تعالی دانسانانو دماغ ته درمره انکشاف ورکړ چه دوی په زرهاؤ وسپنې هواته پورته کړې او روانی ئې کړی دجزء لایتجزی فرضیه نن سائنس باطله کړه او دتندرغوندی ئې دنیا نه غړزور کړ او دهرچا غوزونه ئې ور باندی واز کړل.

په دې سلسله کښې پاته اوپریشانه برخه ایشیا وه چه دغه لویه وچه په یووخت کښې دمدنیت ځانګو وه ولی بیا داروپا ئیانو په لاس کښې بیلابیل اوټوټې پرته وه ایشیا یوځل آزادۍ او مدنیت پلوته تیزقدمونه پورته کړه اوپرله پسې دایشیا لویې خاورې لکه هندوستان اندونیشیا چه لمړی ۴۰۰ ملیونه او دوهم ۷۵ ملیونه نفوس لری آزاد شول او دمدنیت لوړو پوړیوته ئې ځان ورسا وه په دی لړ کښې دترانس جوردان په نامه یوه نوی مملکت آزاد شو چه دهغو نفوس دری لکو ته رسیږی. یهود هم چه له ډېره وخته پریشانه او سرګشته وه دځانله حکومت خاوندان شول!

همدا سبب ؤ کوم وخت چه دهند نه داستعمار جال ټول شو اوهلته حکومتونه تشکیل شول دلته دتیرا او وزیرستان په غرودبلوچستان مهمندو باجوړاو نورو په ښارونو کښې پښتانه راغونډ شول او دخپل ځان یو ساهو حکومت په فکر کښې شول!

دوی وویل چه هلکه مونږ باندی څه چل شوی؟ داولې په دی شلمه پېړی کښې په

دی سمځو اوغارونو کښې په‌خواری او ذلت پراته یو؟ ولی به سره لکه ځنا ورچیچو؟ څنه به دعربو دجاهلیت دزمانې غوندې په‌قومی‌اوقبیلوی وچو کینو او گوندیو آ ختې یو او یو دبل مرگ اوژوبله به‌راته هیڅ نه‌ښکاری ؟

نه‌نن باید مونږ راتول شو اوتول فکر و کړو! دغه تشتت او پرا گند کی دښمنی ترېگنی له مینځه وباسو خپل وطن خپل هیواد آباد کړو راتلو نکو نسل ته یو څه سعادت و گټو !

نودغه پښتانه متفق شول‌اود آزادی بیرغو نه ئې برله پسې دپلو چستان څخه نیولی ترچترا له ودرول اودآزادی غوښتلو مطا لب ئی ددنیا غوزونوته ورسوله اوددغه دحق مطالبې په‌تائید کښې ورسره افغا نستان چه‌ددوی‌ورور او گاونډ دی کاك‌ملا وتړله ! او دغه یې دریم کال دی‌چه‌دوی په دغه کوشش کښې روان دی !

ولی تراوسه چه کاملا نه‌دی آزاد شوی او ځانله حکومت یی نه‌دی تشکیل کړی هغه‌بل‌عامل دی‌چه‌د ازو پائیا نو په‌تحریك نن‌دپا کستان حکومت چه‌ددوی‌سره همسایه او گاونډ اوپوله په‌یوله شریك‌دی‌ددری دآزادی په لاره کښی کویان کښی !

وجه داشی دی چه دا روپا ئیانو داستعمار په دوره کښی چه هند د دوی په‌لاس کښې ؤ یوڅه دپښتنو خاوره هم ددوی لاس ته راغلی وه ولی کوم وخت چه‌هند آزاد شو نوهرقوم ته‌هغه خپل خاوره وسپارل شره چه هرڅوك وربانندی آز اد حکو مت و کاندې ! بیله پښتون څخه ! چه دپښتنو هغه خا وره یی جبراً اوقهراً پنجا بیا نو او بنگیالیانو ته وسپا رله !

نواوس پا کستان که هر څو دپښتنو په خاوره ستر گی پټوی او نه غواړی چه دپښتنو استقلال وپیژنی پښتانه بی کله پریږدی ! انشاء الله‌تعلی‌هغه وخت رانژدی دی چه دپښتو نستای دااوه ملیونه غیرتی پښتانه دخپل وطن او خپلو ورونو دژغورواو دپاره کمربسته میدان ته راوزی اوهغه وخت به دنیاته د خپلې توری برینښ وښیی چه څنگه څوك دبل‌چا حق خوری !

ولی ښه داده چه دپا کستان حکومت خپله فکرو کړی او دشرق امنیت په دغه خپل نا کاره پیش آمد خراب نکړی اودپښتنوخاوره خپله پښتنوته وسپاری .

ښاغلی « خادم »

د زړه خوږ

د پښتون په غلامۍ مې زړه خوږېږی
دخپل قام په بدنامۍ مې زړه خوږېږی

غیرتی پښتون غلام دبل غلام دی
د فلك په بیرامۍ مې زړه خوږېږی

یار دیار جیبونه ګوری دی سلګۍ کا
د دې مینې په خامۍ مې زړه خوږېږی

نه د ځان او نه د قام شولې خادمه !
ستا په داسې ناکامۍ مې زړه خوږېږی

غزل

جانان زما په لمسه د اغیار څله دی
ظالم او جفاجوی وستمګار څله دی

محفل کښې هر چاو څکلې پیالې په خپل نوبت
تش ماله جام نیولی ګلعذار څله دی

بیداره کړه یاران په ساز دچنګ اودرباب
مطربه ! په فرصت کښې انتظار څله دی

په خوله چه ښکاره وائی لااله الا الله
په غاړه د زاهد کښې پټ زنار څله دی

چه نشی پټېدلی وینو ستر ګو د زلمونه
خادمه ! رقیب دومره ریاکار څله دی

(له جلال آباده)

د پښتونستان ځملی شاعر

محمد اجمل ختک

ښاغلی محمد اجمل « ختک » د حکمت خان زوی د خوشحال خان ختک د کورنۍ یو ډېر حساس ځملی شاعر دی ـ په ۱۹۲۶ ع کال د پښتونستان د ختکو په اکوړه کښې پیدا شوی او لوی شوی دی د خپل کلی په مېدل سکول کښې ئې تحصیل کړی او د منشی فاضل په امتحان کښې هم پاس شوی دی

محمد اجمل خان ختک

د پښتو نظم او نثر ډېر ښه لیکی، شعر ئې ډېر ښکلی او ادبی نثر ئې ډېر خوږ دی ، دده په کلام کښې قومی درد ډېر لیدل کېږی او داسې ښکاری چه پټه یوه بله دنیا اری او پښتنی ژوند غواړی ـ خو د یا کستان د متجاوز او جابر حکومت د لاسه هلته خوک د پښتو او پښتون نوم اخیستی نه شی ، پښتنی دنیا جوړول خود هغی دنیا جوړول دی ـ خیر ، ګورو به چه خدای څه کوی ؟

اوس د نمونې په توګه ددې حساس شاعر یو نظم چه د خوشحال خان د مزار د تعمیر د تکمیل په ورځ ئې هلته لوستی دی ، سره دده د عکسه دلته چاپوو .

(اداره)

د زمانې بادته

د خوشحال خان بابا خطاب

چه د نیکه صاحب (خوشحال خان بابا) د مزار تعمیر مکمل شو، اود « پښتو ټولنې » د کابل را لیږلی شوی تعویذ کېښودی شو، نو راغلم ماویل چه د پښتو د پلار نوی مزار او د پښتنو د عقیدت تحفه ووینم ، دلته درارسېدو او مزار لیدو سره ماخه محسوس کړل ؟ او ماددې ننګیالی دغیرتی خاورې نه دا دراك په غوږونو خه واوریدل ؟

« کاش چه زما قوتی بیان د هغې په اظهار قادروی »

خو خیر چه په خه لیکلو خپل طبعیت مجبور کړم ، هغه مې هغه وخت ولیکل او چه نن د خان علیین مکان د مزار د افتتاح جشن دی ، نوغواړم چه تاسو ته هم هغه احساسات پېش کړم .

« اجمل ختک »

اې د زماني باده ! څه په خپله لاره څه

مه چېره مامه چېره ، څه څه په قلاره څه

بو ځل نه ظالمه تا خو څو ځله چېرلی یم ستا د لاسه نرمی ترمی زده د لته راغلی یم
دېر دی یارولی ، کړولی ، تـ زنـولی یم ستا دلاسه تن سوری سوری په زړه داغلی یم
خپل « اولاد » د لاسه دی تیرا ته رسولی یم زه خودی مګاره خو څو شانه لـغړ ولی یم
ماهم ازمایلی یې تـاهم ازمـایلی یـم ماهم ته لیدلی یې او تاهم زه لیـدلی یم

اې د زماني باده ! څه په خپله لاره څه
مه چېره مامه چېره ، څه څه په قلاره څه

بو بېزده په دې تور غره کښې بوا درخ ته اوده شه یم
بت یې خړوتړو ، وچو بو تـو او وا شـه شـه هم
برق که کړی خندارا پوری خاندی دی خندلی شی
برخه که زړ بېزی را نه ژاړ یـه دی ژړلـی شی
گـل که دلا لا په وینو رنګ زما پـېښې کوی
یا زر کې ، سپسی ، تنزری ما پوری نغرې کوی
خرادې که رند بېزی د لته سل ځله رند بـېزی دی
شه کېږی دېر شه کېږی چه څه کېږی نو کېږی دی

اې د زماني باده ! څه په خپله لاره څه
مه چېره ، مامه چېره ، څه څه په قلاره څه

هه ، که ستا عادت وی دا او نه پرېږ دې چېرل غواړې
خامخا زاړه هـوکی بیا رالـړزول غـو اړې
زود رباب په نوی شهـازونو ترنګـو ل غواړې
بیا و بدمستانو ته جـامـونه کړ نګول غـواړې
دا ته درنه خلاص نشوم ما بیا جنده کول غـواړې
خامخا زخمونه می په مالـګو دکـول غـواړې
شه ده خو بیا واوره گوري ! مه کوه دا مه کوه
شه درته معلوم یم په ځان پوري خندا مه کـوه

(او) اې د زماني باده ! څه په خپله لاره څه
مه چېره مامه چېره ، څه څه په قلاره څه

زه گـوري هم هغه د پښتونـه ډک خـو شحال یم
زه گـوري هم هغه دلـمبو نه ډک خوشحـال یم
زه گوري داواوره ! اول تـو ره بیا قلـم یمـه
نوم می دی خوشحال ولی دستـا د پاره غـم یمه
شرنګ زما د توری په غرونو لـړزه را وستـه
غږ به دغو رزنـګ می په تـختونو لـړزه را رمنه

توره مې دننګ هډود ټوټې نه کوز ېږي نه
وینه دغیرت زما چه ګرمه شي سړېږي نه
(نو) اې دزمانې باده ! ځه په خپله لاره ځه
مه چېړه ما مه چېړه ، ځه ځه په قلاره ځه

زه دلوې بابا دګر مې وینې توده څړیکه یم
زه دغار په خوله کې دمحمود بت شکن کړیکه یم
زه د هیبت ناک خیبر په سر د هیبت پړک یمه
زه د پښتونخوا دطوفانی آسمان سور چړک یمه
زه دلویو لویو درنو خونو ننګیالی ځوی یم
زه د سربازانو بابا ګانو توریالی ځوی یم
داغ مې دزړګی دی دغیرت دولولو نه ډک
هر یو حرکت مې ګوري دی د زلزلو نه ډک

(نو) اې دزمانې باده ! مه چېړه ما مه چېړه .
ځه په خپله لاره ځه، ځه په خپله لاره ځه

زه ګورې سېلاب د زمانې ته هم بندا چوم
ته خولاته ئې چه زه په ستور وکمندا چوم
زه په آب د تورې دقسمت تورې وینځل غواړم
زه په خپل جلب کښې تقدیرونه ګرزول غواړم
ډېرې ولولې لرم طوفان ترېنه پیدا نه شي
لوئی ارادې دی بل جهان ترېنه پیدا نه شي
ماخو پښېمانی نه ده زده ته به بیا پښېمانی یې
زه خو خدای نه غواړمه داته به بیا ستومانه یې

(نو) اې د زمانې باده! ځه په خپله لاره ځه
مه چېړه ما مه چېړه ، ځه ځه په قلاره ځه

مړ مې ګوره مه ګڼه او ده یمه بیدار به شم
خس مې ګوره مه ګڼه دستا د سترګو خار به شم
ستا د انقلاب ګوتی ، زه تل وینم ما لیدلی دی
ټولې ناکړدې دی ماد ځان سره ګالی دی
مونږ چه وومات کړی بتان بیا تا ودرولی دی
تا د بت شکنو په غیرت پوری خندلی دی

زه تري ښه خبر يم مسلمان سره ته څه وکړل
خير دی داسی کيږی ښه زړه يخ کړه ډېر دی ښه وکړل
(خو) اي د زماني باده ! ساه مې لارا ښکلې ده
(او) مه چېړه مامه چېړه ځه يه خيله لاره ځه
ما به هغه وخت در پسې قبر در شلولی ؤ
داسې انقلاب به مې يه تا در اړولی ؤ
زه چه يه مغل پسې دننګ تو ره ايستلی شم
بل به د کوم کجاوی چه به زه تري ګوندی غلی شم
زه خو بيا شهباز يمه ، ښکار و نو پسی ګرزمه
ياد که ، جنګيالی يمه ، جنګو نو پسی ګرزمه
زه هغه خوشحال يم چه دخدای نه داسې وخت غواړم
داسی انقلاب خو زه تمام عمر يه بخت غواړم
(خو) اي دزماني باده ! ساه مې لارا ښکلې ده
(نو) ځه يه خيله لاره ځه (او) مه چېړه مامه چېړه

کومه قلعه ګانې چه يه وينو زمونږ جوړی دی
کومی ښارې چه يه هډو نو زمونږ جوړی دی
لويی منارې چه د لويی مو داستانونه دی
هغه مقبرې چه د عظمت مو تاريخونه دی
هغه جماتونه چه زما د ايمان نښی دی
هغه آستانې چه هم زما د عرفان نښې دی
سوری پرې دغېرو د جندې کله ز غملی شم
کله دهمای جالو کښې زه ګونګی ليدلی شم
اي د زماني باده ! ځه يه خيله لاره ځه
مه چېړه مامه چېړه ، ځه ځه يه قلاره ځه

داسې دسوزونونه ډک پک ساز ونه مه چېړه
داسې دېړو داسې دا ډک زخمونه مه چېړه
داسی په شور ناکو طوفانو نو غرض مه لره
داسې په زمرو ډکو بڼو نو غرض مه لره
دې تورو تړو سرو بڅرونه يوې خواته ځه
لاس به ګورې مروړې دې خبرونه يوې خواته ځه
داد خيبر سترګی يه بنګال ئې نظرونه دی
دې لمنی لاندی ګورې ډېر انقلابونه دی
نو ، اي د زماني باده ! ځه يه خيله لاره ځه
مه چېړه مامه چېړه ، ځه ځه يه قلاره ځه

ښاغلی سید احمد (گل زاد) :

غلیمه !

اجداد می د لته ښخ ی نگاړان دی مدفن یمه
تیر نه وزي غلیمه زه اولاد د بت شکن یمه

ته به د پښتون د غلامی خیالونه ډیر وهي
مخ به دی خدای نور کړی پښتونخوا باندی نه سپروهي

ته د عقاب لحاله کښی لاسونه ښوروي خاله
تشسپین پښتنه له بمباری نه ډاروي شه اله

زه خدای پیدا کړی قربانی نه د وطن یمه
تیر نوزي غلیمه ! زه اولاد د بت شکن یمه

چا به وی دنیا کښی اوریدلی داخبر زموږ
ډک دفتوحاتو او همت پروت دی دفتر زموږ

زه لا پښتونخوا نه تیر یدلی هیڅ زمان نشم
سر به می قربان کړم خو غلام به د فادیان نشم

ډک یم په همت لحکه د پلار قبا په تن یمه
تیر نوزي غلیمه ! زه اولاد د بت شکن یمه

زه مېړه پښتون یم قربانی کښی نه پیاوړی یم
ستاغوندی تګمار باندی خو خدای دی چغتلی یم

گوره زمانې رنګ چه گیدړ میل د ښکار کوی
گوره گیدړان چه د زمری څخه انکار کوی

زه به تیره توره سرو هونګی د دښمن یمه
تیر نوزي غلیمه ! زه اولاد د بت شکن یمه

ته که خرخونکی د وطن ئې سوداگر به ئې
لحان را معرفی کړه بریالی د کم دگر ته ئې

ستا سحر و جادو بر پښتنو کله چلیږی نن
ستا پسه سپاستونو پښتانه کله غولیږی نن

تل پر آزادی باندی مائل د صور کفن یمه
تیر نوزي غلیمه ! زه اولاد د بت شکن یمه

زه د پښتونخوا له هسکو غرونه تیر یدای نشم
ستا د استاذانو په پلان زه غونډای نشم

زه د پښتونخوا په دگرونو هوسیږمه
زه ددې بوستان یه سرو گلو خوشحالیږمه

زه تربیه شوی د پښتون یه شین چمن یمه
تیر نوزي غلیمه ! زه اولاد د بت شکن یمه

زه پېژوندیانه کښی اساوت څخه بیزاریمه
سرومال نه تیر یم محافظ د خپل دیار یمه

زه د پښتنو په توره جوړ پښتونستان غواړم
زه د پښتنو ونوی ژوند ته بل جهان غواړم

لحان به قربانی کړم همیشه یه دې گفتن یمه
تیر نوزي غلیمه ! زه اولاد د بت شکن یمه

تل د پښتنو پو آزادی سره ژوندون غواړم
خدایه ستا له دره د پښتون غلیم زبون غواړم

زه یه د « گل زاد » بریخی مل د آزادی شمه
فخر کښم مرگ چه زندانی د غلامی شمه

تیر به سره هیر کړو نن منکره دلارسن یمه
تیر نوزي غلیمه ! زه اولاد د بت شکن یمه

په دی ورځو کی د امریکا د متحده ایالاتو په اتلانتیک سیټی کی د جمال د ملکي د تاکلو د پاره څلور پنځوسو پېغلو ځانونه کاندید کړیوه چه پېغله (آلا باما) د آراو په کثرت سره د ۱۹۵۱ کال د امریکا د ښایست ملکه وپېژندله شوه په پورتنی عکس کی الاباما په لومړی قطار کښی له کښېنی خوا پنځمه پېغله ده

میس آلا باماد ۱۹۵۱ کال دښایست ملکه د (جاکس مرسز) د ۱۹۴۹ کال دښایست د ملکې سره .

میس آلا مایو ویشت کسلنۍ پېغله ده او ویلی ئې دی چه فعلا د مړوښۍ خیال نلري .

د المختار نه :

لیکونکی : رونالد کتلروس بیتی
مترجم: ښاغلی شفیق

په امریکا کی د قلم ازادی

څنګه تامین شوه ؟

دوه سوه اوپنځلس کاله پخوا د « نیویارک ژورنال » روزنامې د نیویارک د یو خائن حاکم په باب کې لیکلی وو چه دی یو ډېر مرتشی او بدی خور سړی دی چه په دې اثر لنډوروسته ددې اخبار چاپوونکی ادخورژنکی دمحبس توروتیارو ته وسپارل شو او د روزنامې ټولې پاڼې د بازار او د خلکو د کورونو نه راغونډې او په اوروسوزولی شوې ، ددې په وروسته د نیویارک ټول اخبارونه مسدود شول مګر هغه یو اخبار چه کاملاً د حکومتی او امرومطیع ؤ ، ددې امر نه مستثنی وشمېرل شو .

دا واقعه که څه هم زمونږ په عصر کې افسانه یا وهمیات بلل کېږی اما کله چه په امریکا کې دقلم آزادی نه وه تامین شوې دې حادثې یو حقیقی صورت درلود دا رشوت خور حاکم « ولیم کوسی » د نیویارک دمستعمرې والی ؤ چه د بریطانیا دشاهی مقام له خوامقرر شوی او په رشوت، خیانت او استبداد ئې خورا ډېر شهرت درلود . د روزنامې چاپوونکی مستره جون پیترزنګر » د نیویارک د ښاریو محلمی و .

د ۱۷۳۵ کال د اګست دمیاشتې په څلورمه ورځ دمحکمې دروازې دخلکو په یو لوی ازدحام ډکې شوې ، داهغه خلک ؤ چه ددې مجهول چاپوونکی دعوه ئې خپله دعوه ګڼله ، هغه کسان چه دقضا په چوکیو ناست ښکاریده هغه ټول د حاکم اتباع او طرفداران وو ، دمحکمې رئیس دحاکم له خوا مامور شوی ؤ چه په هر صورت سره کولی شی باید زمینه تیاره کړی چه دی خلک ډېرندو په شان استعمال او د هغوی دمایملک نه استفاده وکړی ، دمستعمرې ټولو وکلاوو ته خبرور کړ شوچه که چاددې جانی نه دفاع وکړه هغه به هم پهسخته جزا محکوم شی . ددې قاضیانو او دربارپانو عقیده داوه چه سړی دهغه مطالبو په نشر کې آزاد کې کوم چه د حاکمه اقلیت (حکومتی مقامونو) درضائیت موجب ګرزی د « کوسی » پهوخت کې همدایوه جریده چه « ګازیت » نومیده او د حکومت مطبوعات ئې احتکار کړی وو، چاپیدله . او نورنو دټولو نشریاتی اوقضائی امورو واګی د کوسی په ظالم اوناولی لاس کې وو .

دهمدې وضعیت دتبدیل او مخصوصاً ددې دپاره چه ددې ظالم حاکم دظلمونو او خیانتونو نه پرده پورته شی، دا حرارو یوې دلی عزم وکړو چه د « ژورنال » جریده تاسیس کړی . ددې اخبار اداره ئې د « زنګر » په مطبعه کې وتاکله . هو ا پخپله « زنګر » کوم چه دنویسنده نه ؤ مګر یو پاک اوسپېڅلی محلمی ؤ چه د ظلم نه ئې ډېر بدوړل او په ۱۳ کلنۍ کې د جرمنی نه نیویارک ته راغلی ؤ د زنګر علمی جنبه که څه هم کمزوري وه مګردی یوزړورسړی ؤ اوهرڅه به چه دده ملګروورته راوړه هغه به ئې چاپول . کله چه حاکم د « ژورنال » دنسخو په سوزولو حکم وکړو سره له هغې هم زنګرلاس وانه خیست او دخپل اخبار نشرولو ته ئې ادامه ورکړه، دده دروزنامې دطبیعی اوخرڅ شمېرورځ په ورځ زیاتیده ترڅو چه حاکم په تنګ شو او مجبوراً ئې دی بندی کړو، پهزندان کې ده ته بې له خیلی ښځې څخه نور اقارب نه شو ورتلی اوفقط یوه میرمنه ئې وه چه دتنبې له سوري نه به ورسره ګرېدله - که څه هم دده روزنامه دده د زړورتیا له خوا خرڅه وه او چاپیده او مخصوصاً د خپل میره

د بند موضوع ئې یکی ولیکه مگر زنگر د محکمې د ظالمو قضاتو په محضر کې په یو لوی جرم متهم ولاړ ؤ چه هیچا ترې دفاع نه شوه کولی .

د محکمې غولی د خلکو په جم وجوش ښه تود ؤ او قاضیانو او حاکم په عقیده دده اتهام او گناه ثابته وه چه دفعتاً خلک یوسپین ږیری سړی ته دلار پرېښودو دپاره سره وخوز ېدل - داددفاع وکیل « اندروهملتون » د مستعمرې د مشهورو وکلاؤ څخه ؤ - دی ددې بیچاره چاپوونکی د بدحال نه خبر شوی او سره ددې چه مریض او ضعیف ؤ بیا ئې هم د ډېر تکلیف او رنځوری سره د « فلادلفیا » نه د سل میله مزله زحمت په ځان اخستی او نیویارک ته راغلی دی چه تر اوسه د محکمې په یوه برنده کې پټ ولاړ ؤ ، دده دې ښکاره کېدو د محکمې د قاضیانو او تماشاچیانو په حال کې یو تغییر راؤست او ټول ئې حیران کړل . « اندروهملتون » یو لوی مهندس او خټ گر هم ؤ چه د امریکی د مشهورې تاریخی بناء « دارالاستقلال » تاداؤ ئې ایښی دی مگر په دې ورځ ئې د هغې نه هم زیات کلك او متین تاداؤ کېښود او د بشر یو گران او قیمتی حق ئې په پښو ودراوه .

سره ددې هم مدعی العموم مسټر برادلی په یقین سره ویل چه دده اتهامات حق دی او موضوع دده ددعوې نه غیر په بل صورت د سره کېدی نه شی ، دا چه زنگر رشتیا یا حق لیکلی ، که دروغ او ناحق بیخی د محاکمینو په فکر کې هم نه تېرېده - مسټر « هملتون » د محکمو په حال او اسلوب یو پوه سړی ؤ ، نورا پاڅېد او په یو موقر آواز ئې وویل : « گرانو قضاتو ! زه د مدعی العموم سره په دی خبره کې موافق یم چه حکومت مقدس شی دی مگر دا نه منم چه هغه شکایتونه چه فاسدو ادارو او حکومتونو ته راجع وی گناه وگڼل شی » .

مدعی العموم چغه کړه ! « دا غلطه خبره ده ! هغه فرامین چه اعلیحضرت « اول تشارلز » صادر کړیدی په دې حکم کوی چه هر انتقاد چه د حکومت موظف سړی ته راجع وی هغه گناه ده - عام له دې چه رشتیاوی که دروغ » .

هملتون دا خبره په یو متینه لهجه رد کړه او داسې ئې وویل : « دا نه شی کېدلی ، ځکه هغه پاڼه چه د زنگر د اتهام په باب نشر شوې په هغې کې لیکلی دی چه ده دروغ خبرې چاپ کړی دی او ستاسې د خبرې له مخې خو د « دروغ » کلمه د تهمت په پاڼه کې بیا بیمعنی پاتی کېږی » ده دا هم زیات کړل چه : « که حقایقو ته گناه وویل شی نو دا به د شریرو او فاسدو حکامو په لاس کې یوه توره وی چه نیکان او حق گویان به پری هلا کوی » .

مدعی العموم یو ټوپ وکړو او وئې ویل : « پام ! مسټر هملتونه گډې وډې مه وایه ! » .

هملتون مسکی شو او وئې ویل : « هو ! هو ! حاکمان د عدالت درواجولو نه عفوه کېدلی نه شی ، مونږ کولی شو چه حاکمان په دې قانع کړو چه د دوی مصلحت ددې مقتضی دی چه دوی باید عادلان اوسی مگر ددې فایده څه شی دی چه د هر فریادی او مظلوم خوله چپه شی او یا هغه څوك گناهگار وبولو چه هغه خپل شکایات او د مظالمو حکایات خلکو ته رسوی ... ؟! »

دده خبره یو قاضی غوڅه کړه او وئې ویل : « قانون بالکل ښکاره دی ، انتقاد بیخی گناه گڼل کېږی که څه هم صحیح وی ، او رشتیا ویل د سړی جرم نور هم زیاتوی کله چه د یو حاکم یا د یا چا د یو مامور په حق کې وویل شی ... نو مسټر هملتون دې په دې موضوع کې د سکوت نه کار واخلی او قاضیانو دده د دلیل او رېدلو ته حاضر نه دی » .

هملتون سرتیټ کړو اوونې ویل : « دقاضی صاحب نه دده په وینا ډېر تشکر کوم » بیائې مخ محاکمینو ته راواړوه اوغګ ئې وکړو : « ای حضراتو محاکمینو ! زه تاسو دې فتحې ته ملتفتوم چه ما دټولو په حضور کې په هغو حقایقو کې حاصله کړه کوم چه ما اوس عرض کړه اوفعلاً ئې زه ددلیل ویلونه منع شوم : زما مطالب ډېر واضح اوښکاره دی نو زه ستاسې عدالت غواړم .... دومره اجازه راکړی چه ووایم : ددلیل منع کول باید یو ډېر قوی دلیل وګڼل شی ! »

خلکو دمدعی العموم مرتبو وېښتو، قانونی الفاظو اوښایسته کالو ته کتل مګر هیڅ دتاثیر لاندې ئې رانه غلل ، مګر دې سپین زیری ډېر حقایق دوی ته واضح کړل اود آزادۍ جذبې ئې په جوش راوستې .

هملتون بیاغګ وکړو : « داموضوع چه نن محکمې ته وړاندې شوې دا باید تاسې یوه عادی ، کم خطره اوخاصه موضوع ونه ګڼی ! دا یوازې ددې بېچاره چاپوونکی مسئله نه ده ... نه! بلکه دا یوداسې قضیه ده چه عواقب ئې دهر انسان په حیات کې اثرلری دا یوه لوړه موضوع ده ، داد آزادۍ موضوع ده اوهر سړی آزادی په غلامۍ بره اومرجحه ګڼی .... داخلک به وروسته ستاسې ډېر قدر اواحترام وکړی که تاسې داستبداد اوظلم اساس په یوپاک حکم لرې کړو اویو داسې اصول موکېښودل چه زموږ ، زموږ دځامنو اوزمونږ دګاونډیانو دپاره دهغه حق تضمین وکړی کوم چه طبیعت مونږ ته راکړی اوقوانینو اوشرایعو ثابت کړی دی دظالمې اومستبدې اداري فضیحت اورسوائی په حقه خبره اوحقه لیکنه حق دی .

دقاضیانو به زړونو کې داورلمبې پیدا شوې ، دمحکمې رئیس په درنو اوتهدید آمیزو عباراتو کې اجمالاً دتهمت خلاصه محاکمینو ته ویله اوګویا دد وی نه ئې دزنګر په حق کې دجانی او مجرم حکم غرښتلو ـ محاکمان دخپلو ځایونونه ووتل اویوځو دقیقې لاتېرې نه وې چه بېرته راغلل اوخپله فیصله ئې دزنګر په برائت اعلام کړه ، اود خلکو چغو اوشور ماشور دمحکمې وضعیت داسې اخلال کړو چه قاضیان ئې داداري نه هم عاجز پاتی شول . په سیاورځ دزنګر زولنې ماتې شوې اوحاکم « کوسی » هم دخپلې منطقې دبغاوت نه وویرېد ..... اولنږه موده وروسته ناجوړه اویسې مړشو ـ د هملتون خطابه چاپ اوپه ټولو امریکائی مستعمراتو کې وویشله شوه اودانګلستان احرارو په ډېر اهتمام ولوسته او په ډېرو ممالکو کې ئې خو را فوق العاده تاثیر وکړو .

ددې زړورسپین زیری دې مجاهدو ډېرښه نتایج وبه ښل او کله چه دامریکا قانون جوړېدو نود انسان دحقوقو دباب په اوله ماده کې ئې دقلم اومطبوعاتو په آزادی تصریح وکړه .

دهغې زمانې راهیسې ترننه پورې هیڅ حاکم بیاونه شو کولی چه دامریکا دکومې جریدې یانویسنده په علیه پرچاباندې دتنقید په وجه ، حکم وکړی که څه هم دا انتقاد ډېر تریخ اوبد خونده وی .

دلوی پښتون له مجلی څخه ،

دغریب مړی

ساوو ، دیو کلی په خوا په یوه لار تللو ، په یو کندوال کور کښې ئې شورانګو لاود ودو غټو ژړا ترغوږه شوه ، ساوو لږ څه خپه بیولی شو په دې کښې یوه جنازه څلوروتنو په اوږو راخیستې راښکاره شوه ، یوشکېدلی کټه او یه مړی یوه زړه سوری سوری برستن پرته وه د ساوو نه هغه وخت د(۰) صاحب جنازه وریاده شوه چه دبلدئې په ښایسته ښکلی موټر کښې پرته ده اونورهم ډېر ګړندی ګاډی و پیسې زغاسته ، ساوو هم دانسانی همدردی وروړاندې شو اودجنازی په کټ پورې ونښته ، اویو رنځور غوندې سړی لره ئې چه ساتی بې واره اخیسته دمه ورکړه دګور په غاړه ئې د یوتن نه پوښتنه وکړه چه داخوك دی ؟ هغه وویل دا یو غریب ددې پاس کلی دخان دهقان دی !!

ساوو ویل : - چه داولی ؟ اوڅه ناجوړه ؟

هغه وویل : - دمنی تبی (ملیریا) کولې !

ساوو ویل : - څه دارو درمل ئې نوو کړی ؟

هغه ویل : - خدای شته ، شمکی ، اغزکی ، سپېرکی بادیان ، او هلیلو آچار ډېر څه ئې وکړه خوونشوه !!

ساوو ویل : - دتبو دپاره خو دوا کتړانو سره خاص خاص داروګان کونین فینه ډرین اتبرین . . اورنګ رنګ پیچکاری شته نوهغه ئې ولی نکولې ؟

هغه ویل : - پیسې به ئې د کومه کړی وای ! ددهقان خوکو رکړ دی غله څوك نه اخلی پیسې به د کومه شی ؟

ساوو ویل : - په دې خودومره پیسې نه لګېدلې ؟

هغه ویل : - اوښ چه په پیسه شی خوچه پیسه نه وی نو پرې څه !!

ساوو ویل : - خودهقان وه دهغه نه به ئې غوښتی وی کنه ؟

هغه ویل : - ته نه وې او بل داسې مخمور نوو ، نو !! اوپه خانانو ګوندی دچا نه کېږی څه ؟

په دې کښې مړی ددوتنو قبر ته کوزاره چه دخامتا دکفن نه د غریب نورانی څېره راښکاره شوه چه دمخ نه ئې دنېستی علامې نکښت (....) ښکاربدی اوددې نیمګړی دنیا دخلکو دعدم مساوات اومعاشی بې عدالتی زړه چاودی خاوروته وسپاره شوه .

په مزار د غریبانو نه ډېره شته دی ته ګل
نه وزردپتنګ سوزی نه فریاد شته د بلبل

سیال)

نوی طبی وصیتونه

مترجم ښاغلی محمد نبی کهزاد

له ایتالوی مطبوعاتو څخه

دغاښو ساتنه

ددغو تحقیقاتو اواوږ دوڅېړنو پهرونا کښې چهدغاښو جوړولو (نو رت وسترن یونی ورسته) نومی مدرسې پهدې لار کښې کړی دی داخبره ئې ثابته کړې دهچه که دډوډۍ خوړلو نو وروسته غاښونه ښه ومینځلی شی نو پهدې صورت کښې بهدغاښو نو دچنجو وهلو خطره پهسلو کښې له (۵۰) څخه تر (۶۰) پوری لږه شی .

داتحقیقات ددکتور (لئونارد فوسدیك) دنوموړې مدرسې د کیمیاد پروفیسر د کتنې اومشرۍ لاندې عملی شوی دی، نوموړی ډاکټر ۹۴۶ تنه شاګردان لرل چهدغه پورته شمیر دنجونو او هلکانو څخه ګډا او مخلوط تشکیل شوی ؤ او دغه تحقیقات ئې پهدې ډول علمی کړل چهله دغه پورته شمیر څخه ۵۲۳ تنه پهدې خبره مکلف دی چه باید هغوی دډوډۍ خوړلونه وروسته فی الحال خپل غاښونه په برس ومینځی او که د کوم یوعذر له کبله بهئې غاښونه پهبرس نشو مینځلی نو خپل غاښونه به ئې ارو مرو پهخالصو اوبو مینځلی اوپاته نورو ۴۲۳ تنوشاګردانو بهسهاړاوماښام خپل غاښونه پهبرس صفا کول .

دلمړی کال پهپای کښې دطبی معاینې اورا دیوګرافی نهوروسته دا خبره ثابت شوه چه د دوهم ګروپ پهشاګردانو کښې (۲،۲) روغ غاښونه نوی چنجی وهلی دی او حال دا چه په لمړۍ دسته کښې دغه مرض له (۰،۸) څخه تجاوزنه وکړی یعنی پهدغو دواړو ګروپونو کښې تفاوت پهسلو کښې ۶۳و ددوهم کال پهپای کښې هم پهدغودواړو ګروپونو کښې تفاوت پهسلو کښې ۵۳ ته ورسید هم دغه راز دهغو تحقیقاتو پهرونا کښې چهمونږ کړی دی داخبره معلومه شویده چه دغاښونو د چمجو مرض د(مدنی خلکو مرض) دی اوداځکه چه په غیرو متمدنو مللو کښې دغاښونو دچمجو مرض نسبتا ډیر نادر اولږ لیدلی شویدی، اودپخوانو خلکو چمجی او ککری هم زمونږ دغه پورته مدعا ثابتوی او په دغو ککرو کښې لیدل شویدی چه په عمومی ډول دپخوانو خلکو غاښونه سالم او روغ وو .

پهدې موجوده عصر کښې دډیرو قندو اوهم دغه راز نورو کار بن ایدراتو خوړل د غاښود چمجو دمهم عواملو څخه ګڼلی کېږی .

نن په قطعی ډول داخبره ثابته شویده چهدغاښود چمجو مرض پهعمومی ډول دهغو شکرو د تبخیر پهاثر چه دخوړلو پهشیانو کښې وی اوهم دغه راز دخوږو مشروباتو اودشیانو داستعمال څخه پیدا کېږی اوداځکه چه دخولې میکرو بی فلور دغه شکره حامض ته تبدیلوي چه غاښونه دحملې لاندې نیسی . او که هرڅومره طبعی مدافع یعنی ناړې ددې خبری کوشش کوی چهدغه حامضی خنثی اوبی تاثیره کړې مکر کوم خلك چهخواږه ډیرخوری دهغو دخولی ناړې پهپوره ډول مدافعه نشی کولی دغاښونو دچمجو وهلو کار داوبود میخانیکی ګار غوندی ندی چه په تدریجی ډول سره تېږه او به کوی اوسولوې بلکه دا یو راز آنی اومسلسلې حملې دی چه دغه حامض ئې په غاښونو باندې کوی او هره حمله ئې دغاښ یوډیره فوق العاده کوچنی مینائی توټه په تدریجی ډول کېږی له غاښ څخه جلا کوی اوداعمل اکثریه دې وخت کښې شروع کېږی چهخواږه پهمعده کښې داخل شی نوددغهدخوړل نه دری دقیقی وروسته دغه عمل شروع اردشلو دقیقو اویانیم ساعت نهوروسته خپل انتهائی قوت ته رسېږی او دغه عمل ترهغه وخته پوری دوام کوی ترڅوچه دخولې ناړې ددغه عمل پهمقابل کښې پهمقابله حمله پیل وکړی .

داخبره دې پټه پاته نه شي چه په غاښونو باندې دحامض عمل داشخاصو په نسبت متفاوت دی اوهم دغه راز دخولې دناړو عمل یعنی په کوم وخت کښې چه دی حامضی عمل سریع وی او دخولې دناړو مقابله سسته اوبطی دی نو په دغه صورت کښې دغاښونو دچمجو وهلو مرض ادامه پیدا کوی او که قضیه معکوسه وی نو په دغه صورت کښې په متوسط ډول له پنځوسو تنو څخه یو تن هرشی چه وغواړی خوړلی شی بی له دی چه دهغو غاښونو ته کومه صدمه ورسیږی اوله احصائې څخه معلومیږی چه اغلب اشخاص ددی دودستو په منځ کښې واقع شویدی .

په دې خبره کښی شك نشته چه دسهار اوماښام په وختو کښې دغاښونو مینځل غاښونه پاك اوصاف ساتی اوددې کار په اثر په خوله کښې یوښه خوند پیدا کیږی لیکن دغه کار دغاښونو دچمجو وهلو دمرض مانع کیدلی نشی .

له ډیر کسلو راپه دې خوا دغاښونو یوشیمر داکتران داعادت لری چه دډوډۍ اویاد خوږو شیانو دخوړلونه وروسته خپل غاښونه مینځی اوهغه څوك چه دوی ته دعلاج دپاره راځی هغوته هم دغه توصیه کوی، اوحقیقت دادی چه کوم خلك دغه کار عملی کوی په هغو کښې دغاښونو دچمجو مرض ډیر لږ لیدلی کیږی دکتور فوسد یك چه پخوا دغاښونو دچمجو په مرض اخته وله ۱۹۳۵ کال څخه راپدیخوا دهغه یوغاښ هم په دغه مرض ندی مبتلا شوی اودنو موړی داکترله دریو کوچنیانو څخه چه هریو (۱۱) او (۱۳ (۱٦) کاله عمرلری تراوسه پوری ئې پرته له یواویادو دغاښونو څخه زیات ندی چمجوشوی .

له شلو کالو راپدیخوا ماداخبره خپل عادت گرځولې ده چه دهرې غذا اوخوږ ودخوړلونه وروسته خپل غاښونه په ښه ډول په برس باندی مینځم اوپه دې ډول له ۱۹۲۰ کال څخه راپدیخوا زما غاښونه روغ دی اودچمجن والی کوم آثار پکښې نه لیدل کیږی سره ددې چه پخوا له دی زما اکثر غاښونه چمجن وو اوډیر زر به چمجن کیدل لیکن سره ددغه کار ماد شکرې اوخوږو شیانو خوړل هم ډیر لږ کړی دی اوزمادی کارهم ماسره زما دغاښونو په ساتنه کښې ډیره مرسته کړې ده .

داخبره هم معلومه شویده چه اکثره هغه شاگردان چه دغاښونو دچمجن والی په مرض اخته وی هغوی خوازه اوخوازه مشروبات ډیر استعمالوی او کوم شاگردان چه دکوم علت په اثر خوازه شیان ډیرنشی خوړلی دهغو غاښونه له چمجن والی څخه مامون اوروغ وی هم دغه راز هغو شاگردانو چه دچایو څکلو اودخوږو شیانو دخوړلونه وروسته به ئې خپل غاښونه مینځل دهغو غاښونه به روغ اوسالم وو .

لنډه داچه دډیرو تجربو په لړ کښې داخبره ثابته شویده چه که غاښونه دډوډۍ اوخوږو شیانو دخوړلونه وروسته ومینځلی شی نوددی کار په اثر به دغاښونو دچمجن والی دمرض جلو گیری وشی اودغاښونو دساتنی اومحافظې یواځی عامل اوبه دی اوبس دچمجن والی مرض یوعمل دی چه په تدریجی ډول صورت نیسی اودانشو ویلی چه که په کوم یوغاښ باندې دچمجن والی کومه یوه علامه ښکاره اوڅرگنده شی نو په دغه صورت کښې دده مرض مخه نیولی او جلو گیری امکان لری ؟ بلکه که دغاښونو دساتنې اوحفاظت دپاره له پخوا څخه یو پرو گرام ددی کار دمخ نیوی دپاره وضع کړیشی نو احتمال لری چه نتیجه ورکړی .

دهغو تحقیقاتو په لړ کښې چه په دې شلو کالو کښې دغاښونو دساتنې اومحافظې په شاو خوا کښې شوی دی ډیر پرمخ تگ شویدی اوامیددی چه ددې مرض دعلاج اومخ نیوی دپاره یوه موثره وسله په لاس راشی که څه هم تراوسه پورې ډیر مختلف مواد لکه (فلیور) او نوری الونیاك او ویتامین

(پاتی په ۲۳ مخ کښی)

د جبران خلیل جبران لیکنه

د ښاغلی سیفی ترجمه

شیطان

(۲)

آیا ته زما د احساناتونو او عنایتونو څخه انکار کوي ؟ سره ددي چه ته زما په سیوری کښې لوی شوی او پالل شوی ئې! آیا دا زما دوجود برکت نه دی چه تا دپاره ئې یوه پیشه او مخصوص کسب وضع او پیدا کړې دی ؟ آیا دا زما د نوم برکت نه دی چه ستا د اعمالو دپاره ئې یو مخصوص قانون وټاکلی کړی دی؟ آیا زما ماضی ته زما د حال او مستقبل څخه بې نیازه کړی ئې؟ آیا ستا دولت او ثروت تر دې درجې پورې رسیدلی او زیات شوی دی چه زه ئې نورنشم زیاتولی ؟ آیا ته په دې حقیقت نه پوهیږی چه که زه نه وم نو ستا ښځه او اولادونه او خپل خپلوان به دلوږې مړه نشی ؟ او ته ځان سره فکر وکړه چه که ما نیټت او فنا کړی نو ته به کوم کسب او پیشه د ځان دپاره غوره کړې ؟ او که زما نوم د زمانې د ځولونو په اثر محو شی؟ نو ته چه دا نن په دې غرونو او کلو او باندو کښې گرځې او ستا خبرې خلك په سرو سپینو اخلی او ستا ډیر قدر او احترام کوی، او خلك په دی حقیقت خبر شی چه د شیطان نوم محوه شویدی او نن خلك دهغه د مکرونو څخه خلاص او آزاد دی ، نو ته ووایه چه په دغه صورت کښې به له تا څخه څوك څه واخلی او نن چه تا ته خلك سره سپین او روپی او پیسې او قیمتی شیان د شیطان سره د مقابلې په سلسله کښې درکوی نو که زه مړشم نو آیا بیا به څوك تا ته څه شی درکړی ؟ او دا ته چه خپل ځان د لاهوتی مسائلو پیاوړی یوه اورمز شناس گڼې نو آیا تا ته دا خبره نه ده معلومه چه دا د شیطان وجود دده د دښمنانو - پادریانو - د تخلیق سبب دی . او په حقیقت کښې دا زوړ او پخوانی عداوت هغه پټ او مخفی لاس دی چ

(د ۲۲ مخ پاته)

کا ارونکی دغاښونو دپاره نوري خمیري شوی د تجربو لاندې نیول شویدی لیکن تر او سه له یو څخه هم پوره نتیجه نده اخیستلی شوی. په پای کښې دا څو کرښې چه د ډیر ویاتنو او څیړنو په لړ کښې لاس ته راغلی دی د ښاغلو لوستونکو د استفادی دپاره لیکم .

(۱) سهار او ماښام خپل غاښونه په برس ښه ومینځی او که ممکنه وی د هری غذا او خوړ لونه وروسته دغه کار عملی کړی او که برس امکان نه لری نو په خالصو او بو خپل غاښونه و منځی .

(۲) ، او که په ځینو وختو کښې برس لاس ته ورنشی نو په تشو او بو خپل غاښونه و مینځی او خوله کنګال کړی دا آسان کار یعنی د خولې کنګالول هم ټول خواږه او هغه غذائی مواد چه په غاښونو کښې پاته شویدی د خولې څخه باسی او په خوله کښې د حامض د تشکیل مخه نیسی ځینی دا راز خلك مې هم لیدلی دی چه هیڅ کله ئې برس باندې د خولی مینځل ندی قضا کړی او تل ځان سره برس ساتی، او هم دغه راز ډیرې میرمنې دا عادت لری او باید دوی په دی حقیقت پوه شی چه دا د دوی دغه کار دغاښونو د چمجن والی د مرض د مخ نیوی دپاره ډیر گټور کار دی په پای کښې زه تاسې ته داد درکوم چه که تاسی خپله خوله او خپل غاښونه دهغه ترتیب سره سم په پورته مې ذکر کړ وساتی نو ستاسې دغاښونو د چمجن والی مرض به ډیر لږ شی .

(پښتو کوونکی ، ښاغلی سیفی)

دایمان پرستانو له جیبو څخه سره سپین دمرشدانو اوواعظانو جیبو نه منتقل کوی؟ اوته سره ددې چه یوه پریوه او هوښیار عالم ئې آیایه دې حقیقت نه پوهیږی چه دسبب دزوال په اثر ارومرو مسبب پخپله زایلیږی ؟ نو یه دې صورت کښې ته زما یه مرګ ولی خوشحالیږی ، اوخاص بیایه دې صورت کښې چه زه دمرګ یه اثر به نه ستا دغه مرتبه اواعتبار اوشخصیت یه لحاظ یا ته شی بلکه زما مرګ به ستا داولادونو دخولو څخه دغه غوږې مړی بیرته را وباسی اوستا اهل اوعیال به دا وچې او سړې دودی لیوال کړی ! »

شیطان یوه دقیقه چپ شو اودده یه مخ دمهربانی یه لحاظ داستقلال نخښی ښکاره شوی ، اوبیائې یه داسې وینا پیل وکړ :

وګوره ! ای مغروره جاهله! زه غواړم چه تا ته هغه تصویر درښکاره کړم کوم تصویر چه زما هستی ستا یه هستی کښې ضم کړی دی اوزما وجود ئې ستا دوجدان سره مربوط کړی دی ؛ ددې وینا نه وروسته ئې خپل دواړه لاسونه پورته کړل اویه جګ آواز ئې یه دې وینا پیل وکړ : دآسمانو څخه پورته هغه خدای (ج) دی چه دنیسکی سره مینه لری ! دینه وروسته شیطان درونا خواته شا کړه او هر کله چه ده خپل سیوری یه لحمسکه ولید نوچیغه ئې کړه اووې ویل ،

« اودلحمسکو یه پردو کښې مردود شیطان دی چه یه بدو چارو خوشحالیږی ! » دینه وروسته دی دخپل غارخواته ولاړ اویه زړه زړه کښې دخپل لحان سره ویل ؛

« زه ددوو هیبت ناکو قوتونو یه منځ کښې گیر اومحصور یم ! یوهغه قوت چه زه هغه ته منسوب یم اوبل هغه قوت چه دلمړی قوت سره یه جګړه کښې بوخت دی ، کلونه او پیړی تیرشو لیکن انسان ددووآزادو قوتونو یه منځ کښې گیراو محصور دی ؛ یوهغه قوت دی چه دانسان روح جګو مراتبو ته پورته کوی او برکت یسکښې اچوی ؛ اوبل هغه قوت دی چه دانسان روح کښته تیاروته را غورځوی اویو ملعون شی ورڅخه جوړه وی لیکن سره ددې هم یه دغه وخت کښې نه دی دبرکت دمعنی څخه خبرؤ، اونه دلعنت دمفهوم سره آشنا بلکه دده مثال ددې دواړو متضادو قوتونو یه منځ کښې دهغې ونې یشان ؤ چه دګرمی اویخنی یه منځ کښې وی ، ګرمی دا غواړی چه دغه ونه یه پانو یته کړی اویخنی داوغواړی چه له دغې ونې څخه پانې ورپژدی اودغه ونه لخه کړی ، څه موده وروسته چه دانسان دتمدن دسپهار اوبشری الفت سره څه قدر نه آشناشو نواول ئی دکورنیو اساس کښېښود او دینه وروسته ئې دقبیلی اودینه وروسته انسانان دیو بل څخه دخپلو مشاغلو او میلانا تو یه اساس جلاو بل شو لکه چه ددی قبیلی لحینو افرادو دکرهنې پیشه دلحان دپاره غوره کړه او لحینو دمعماری پیشه اولحینو دجولا ګیری او اوبدنې کار اولحینو دکانونو دکیندلو کارغوره کړیه هم دغه یخوانی زمانه کښې دکهانت کسب پیداشو اودالمړی پیشه وه چه دغه پیشه بیله کوم فطری ضرورت څخه انسان اختراع اوایجاد کړه ،

شیطان دیوې دقیقې دپاره چپ شو ، اودیوې دقیقې چپ والی نه وروسته ئې داسې یه زوره وخندل چه یه دغه توله دره کښې ئې دخندا انګازې خپرې شوې ، ددغه یه زوره خندا یه اثر دده یر هرونه واز شوه اوله ډېره درده ئې یه تشو لاسونه کښېنودل او سمعان یادری ته ئې یه ډېر دقت وکتل ؛ کهانت یه دې زمانه کښې پیداشو ، لیکن یه کوم ډول او څنګه ؟ دا درته اوس زه ښیم .

ددنیا یه لمړی او ابتدائې قبیله کښې (لاویس) نومی یوسړی ؤ، زه نه پوهیږم چه داعجیب اوغریب ناآشنا نوم دڅه دپاره خپل لحان دپاره غوره کړی اوانتخاب کړی ؤ ؟ یه هرحال دغه سړی ډېر زهین مګر ډېر دروغجن اولټ انسان ؤ، اودزراعت معماری اوشپون توب اوښکار اودغوراز نورو هغوشیانو او کسبونو څخه ئې ډېر کاوه چه یه کومو کښې زیار اوزحمت ته ضرورت پیښیږی ، اوله دې کبله چه یه دغه وخت اوزمانه کې بې له زیار اوزحمت څخه رزق پیدا کول پیرا مشکل کار و ، ودیها کښې شپې ورځې یه اوزه تیرولې. (نوریبا)

جمله اجزای جهان زان حکم پیش — جفت جفت و عاشقان جفت خویش
هست هر جزوی زعالم جفت خوا — راست همچون کهربا و برگ کاه
آسمان گوید زمین را مرحبا — با تو ام چون آهن و آهن ربا
میل هر جزوی بجزوی می نهد — زاتحاد هردو تولیدی جهد
هریکی خواهان دگر را همچو خویش — از پی تکمیل فعل و کار خویش

تردي وروسته مولانا خپله عرفانی نتیجه له دي علمی بحثه هسی اخلی :

خاك گوید خاك تن را باز گرد — ترك جان گوسوی ما آ همچو گرد
گوید آری لیك من بابسته ام — گرچه همچون تو زهجران خسته ام
چونکه هرجزوی بجوید از تفاق — چون بود جان عزیز اندر فراق
گوید ای اجزای پست فرشیم — غربت من تلخ ترمن عرشیم
میل تن در سبزه و آب روان — زان بود که اصلی او آمد ازان
میل جان اندر حیات ودرحی است — زانکه جان لامکان اصل وی است
حاصل آنکه هر که اوطالب بود — جان مطلوبش بر وراغب بود
کهربا عاشق بشکل بی نیاز — کاه میکوشد دران راه دراز (۱)

اکبر پخپل مثنوی کی داخبره چه عشق په حقیقت کی معاشقه، اوجذب یوه مجاذبه ده، په ښه ډول ادا کړیده، اودمولانای روم سره همنوا شوی ءدیء کوم ځای چه وایی : « زه چه ژاړم مرادمی دادی چه آشنا له ما جلادیء » ځکه چه مولانا هم هره ژړاوناره په « ازجدائی ها شکایت میکند » تعبیر کړی وه .

داکبر له حیاته او احواله موږ نه یوخبر، خوفقط له یو څو اشعارو څخه دده دفکر ډول معلومیږی، اوښکاری چه دخپل عصر په ادب یوه سړی ؤ، اوهغه ادبی تمایلات اواذواق چه ددهٔ په عصر کی وه، ده ته ښکاره شوی وه . اوپه عین دغوادبی جریاناتو کی ده مخصوصاً دپښتنو شاعرانو روحی میلان اوذوق هم ساتلی و، چه دده له دغی خورا مستی پښتو بدلی څخه ښکاری :

---

(۱) مثنوی مولانای بلخی، ص ۲۰۹ دریم دفتر

کسر

زه چه په مینه معشوقو دبنگړو شر نگ لره ځم
زه دهجران دبېلتا نه دتورو جنگ لره ځم
زه اپوته یم (۱) په هجران سره، قرار نلرم
هجر مې اوزد شود وصال دامید کار نلرم
بېلتون په خو له را کړې څا پېړی زه لا عار نلرم
وام دمعشوق پر سینه پروت زه تور لونگ لره ځم

* * *

ځینی ئې ولی، څوك عاشق (۲) څورنگ په توری کاندی
پر خوازمین دشها، هومره هوری (۳) زوری کاندی
بې نیازه نکا چه پلو له مخه لیری کاندی :
چه را وپاڅی په اخلاص، چه خپل څور نگ لره ځم

* * *

اول خو ته نجلۍ په عشق باندی اقرا ره سولې
اور دی راپوری کیء، نور کښېنستې قراره سولې
هیڅ گفتگوی له عشقه نه کوې بېزاره سولې
یو وار خوو وایه قرار چه دیار څنگ لره ځم

داکبر دوې غزلی :

دخپل ځان له حیرانۍ څه ویل کړم — دعشق ویر به تل پخپله پټول کړم
ما مدام لکه بورا پر گلو گښت کړ — اوس به ځم په سر تور سر فراق د گل کړم
دغماز لړ مون به زه په لمبه کښېږدم — ځینی هېر به دیار بزم گل اومل کړم
زما دیار دمینی اور په زړه کی بل دی — زه به سر او مال ښندم دید به حاصل کړم
دبېلتون له ویره ژاړم او ښکی وینی
زه (اکبر) پر خپل آشنا دسر ښندل کړم

---

(۱) اپوته : پریشان (۲) څورنگ : زخمی (۳) هوری زوری : ظلم

چه مدام زه ستا ومخ وته نظر ورم — دبېلتون له بېرى زړه زړ بروز بروزم
که په مادى حکم وشى چه خادم شه — دغه ستا دنغرى سورانگار پرسر ورم
چه جمال په مهر او مينه راښکاره کې — شين توتى شم په هوا دمينى پرورم
چه گفتار دى په ښه مينه راته وسى — نو بدلى سم کوتى کوتى در گوهر ورم
که مى وژنې که مى پېرې رضا ستاده — ستا وغشى نه مدام موخه (١) ځيگر ورم
چه جمال دى په هجران کى راپه يادشى — هغه دم په تصور شمس و قمر ورم

ستا دتورو څنو خيال هسى طويل دى
تل په زړه کى دغه فکر زه (اکبر) ورم (٢)

(٥) سلطان بهلول لودى

(جلوس ٨٥٥ھ - ٨٩٤ھ وفات)

ددې کتاب په دريم څپر کى کى تاسى دلوديانو دکورنۍ احوال ولوست، چه دې کورنۍ ترغزنوى سلطنت دمخه په ملتان کى پښتو ژبه، او پښتنى ثقافت خپور کړى ؤ، که څه هم هغه کورنۍ دسلطان محمود په لاس له منځه ووته، اود (٤٠١ھ) په شاوخوا کې کمبله نوله شوه، مگر دلودى قوم بقايا په هند کى وه، اوله دوى څخه ډېر حربى مشاهير را وواته (٣) او په (٨٥٥ھ) کال بيا له دې لودى پښتنو څخه ابو المظفر بهلول شاه دپښتنو دسلطنت اساس کښېښو، اوهغه رنړائې بياخپره کړه، کومه چه څلورنيم قرنه دمخه دلوديانو په هبوط پټه شوې وه.

دهندوستان په پاچهانو کى يو معروف سړى خضر خان دملك الشرق ملك سليمان زوى دى، چه په (٨١٧ھ) ددهلى پرپاچهى کښېنوست، اودده له کورنۍ څخه څوتنو تر (٨٤٧ھ) پورى پاچهى وکړله، چه دى خضر خانيه پاچهان بولى دخضر خان زوى معزالدين مبارک شاه په (٨٧٤ھ) پرتخت کښېنوست، ځکه چه دا کورنۍ دپښتنو پاچهانو سره مخشوره، اوهم دپښتنو دمخکى خلق ؤ، نوددوى په سلطنت کى پښتنو او خاص

---

(١) موخه : هدف (٢) پښتانه شعراء، ج ٥، ص ٧٠

(٣) مثلا : دولت خان لودى چه په (٨١٥ھ) کى له تغلقيانو څخه پاچهى ونيوله، سلطان شه لودى، ملك بالا او نور نور

بیا لودیانو ډېر اعتبار درلود، اوملك سلطانشه لودی دمبار کشاه په زمانه کی دسرهند امیر ؤ، اوددغه پاچاله خوا په (۸۳۱ه) د«اسلام خان» په نامه هم مخاطب او سر لوړی شوی ؤ اوله مشهورو خلقو څخه گڼل کېدی (۱)

دسلطانشه (اسلام خان) ورور ملك کالا (کالو) نو میدیء. چه دی هم لکه خپل ورور دعصر له مشهورو سپه سالارانو څخه ؤ، اوپه مبار کشاهی عصر کې په اکثرو جگړو کی برخه لرله، اویو مشهور سړی ؤ، (۲) دده زوی ملك بهلول هم له خپله پلاره او اکا سره تربیه شو، اوځکه چه سلطانشه لودی ډېر لوی امیر اوپه هند کی دغټ اقتدار خاوند ؤ، نوده خپل وزاره ملك بهلول ښه وروزه، اوترخپل مرگ وروسته ئې په سرهند کی دی پرېښو

ملك بهلول دلاور اومدبر اوپوه پښتون ؤ، دا کاتر مرگ وروسته ئې استقلال وموند اودهند پښتانه ئې سره راغونډ کړل، اودوی ته ئې دلودیانو تېرشوی شوکت ورپه یاد کړ، اووئې خوښته چه بیا دلودی سلطنت مشالرون کړی، لومړی ده دپښتنو په ملگری سرهند اوټول پنجاب ونیول، وروسته ئې دهلی هم فتح کړ، اود (۸۵۵ه) په ربیع الاول یامحرم کی دهند پرپاچهی کښېنوست، اوپښتانه سرداران لکه قطب خان لودی او دریا خان لودی اونورئې دځان ملگری کړل، اودهندهری خواته ئې ښکاره فتوحات وکړه: دی دسلطنت په وخت کی ابوالمظفر بهلول شاه بلل کېدیء، تر (۳۸) کالو سلطنت وروسته په دهلی کی قصبه جلالې ته نزدې په (۸۹٤ه) وفات شو، او تر ده وروسته ئې زوی سلطان سکندر پرځای کښېنوست، اودې کورنۍ تر (۸۳۲ه) پوری په هند کی پاچهی کوله (۳)

دده شعر: سلطان بهلول لودی، لکه دتوری اوتدبیر خاوند چه ؤ، دغسی هم ده ادبی ذوق درلود، او کله کله به ئې شعرهم وایه، اودده په دربار کی به به پښتو خبری اومشاعرې کېدې اودالودی سلطان لکه خپل اسلاف دم سلطان لودیان د پښتو ژبی شاعر هم ؤ، اودده یوشعر دپټی خزانې مولف هسی ضبط کړی، او دده احوال ئې هم داسی کښلیء دیء:

---

(۱) تاریخ مبار کشاهی ص (۱۸۲ - ۲۰۰) اودول اسلامیه ص٤٦۷

(۲) تاریخ مبار کشاهی (۳) تاریخ سلاطین افغنه اومخزن افغانی او تاریخ مبار کشاهی

« په مخزن افغانی کی نعمة الله هسی کښلی دی، چه ملك بهلول دملك کالا زوی ؤ، په هندوستان ئې دسلطنت لوا هسکه کړه، اودغه ملك له لودی طایفې څخه ؤ، له ډېری زمانې، دې لودی تبر سلطنت کا په هند کی ملك بهلول په سرهند داسلامخان تر وفات راهیسی استقلال وموند، اوتر جنگو په وروسته ئې پر دهلی خطبه اوسکه ووهله، پانی پت اولاهور اوهانسی اوحصار اونا گور ئې دملتان تر څنډو پوری ونیول، اودهندوانو در اجگانو سره ئې سخت جنگونه و کړل، اواته دېرش کاله ئې پر هندوستان سلطنت و کا، اوډېر عادل اوعالم پادشاه ؤ، په کال (۸۹٤ھ) وفات سو. لکه چه وایی :

به هشت صدو نود وچهار رفت از عالم خدیو ملك ستان زجها نکشا بهلول

دسلطان بهلول علیه الرحمه وفات په تبه دجلالی قصبه کی ؤ ..... (۱) »

تردي وروسته دپټی خزانې مؤلف دمحمد رسول کلا توال دبیاض په حواله لیکی چه خلیل خان دسلطان بهلول ددربار شاعر یوه پښتو رباعی دسلطان په ستا ینه کی ویلې وه، چه دغه رباعی به زه وروسته دخلیل خان په احوال کی راوړم دی وائی : چه سلطان هغه رباعی واروېدله، په جواب کی دارباعی سمه دستی وو یله :

ملك به زرغون کړم په ور کړه، راسه: گو ره او ریځی د داد له پا سه

خو ل مـی د عدل پـه د رو رو ن دیء جهـان بـه زېب مومی زماله لاسه(۲)

ناسی چه وروسته دخلیل خان رباعی هم ولولیء، نوبه دسلطان بهلول دارتجالی شعر کمال درته معلوم سی، علاوه پرادبی ښېگړو له دې یوې رباعی څخه موږ د دغه پښتانه سلطان فکر هم څرگندو لای سو، چه ده دمملکت دودانۍ اوعمران فکر درلود، اوپه انصاف اوعدالت ئې حکمرانی کوله .

خلاصه : سلطان بهلول دپښتنو د لودی تبر شوکت ا لوړنیا داستان دوهمه پلاتازه کړ، اوهم دی دپښتو ژبی مربی او شاعر او ادیب ؤ، چه متا سفانه نور آ ثار ئې ورك دی، اوفقط یوه رباعی دیوې یتیمی مرغلری په ډول په پټه خزانه کی مومو ،

---

(۱) پټه خزانه، ص ۷۵ (۲) پټه خزانه، ص ۷۷

(۲) خلیل خان نیازی

د (۸۹۰ھ) حدود

نیازی د پښتنو یوه قبیله ده، چه دلودی یوه پښه شمېر له کېږی، دوی دلودیانو سره یوځای په هند کی خپاره شوی دی، په افغانستان کی لږدی، یوڅو کوره ئې په قندهار اوغزنی اوشېوکی اولغمان کی سته، له دوی څخه هم په هند کی مشهور جنګیالی اومشران راوتلی دی، دلودیانو اوسوریانو په دوره کې ئې ډېر مشاهیر درلوده، مثلا هیبت خان نیازی د شیرشاه سوری په وخت کی د «اعظم همایون» په خطاب د لاهور حکمران ؤ، (۱) اونیازیان دلودیانو اوسوریانو غښتلی ملګری وه، اوتر اوسه ئې هم بقایا په هند کی سته.

له دې قبیلې څخه یو سړی (خلیل خان) دیء، چه دی د سلطان بهلول لودی د دربار معتمد او ادیب ؤ، او پټی خزانې دده یوه مدحیه رباعی راوړې ده، په دې ډول:

«محمد رسول کلانوال پخپل بیاض کی هسی کښلی دی: چه په هندوستان د برسات په موسم خلیل خان نیازی هسی رباعی انشا کړه، او د سلطان بهلول پادشاه په مخه کې وویله:

رباعی

خړی او ریځی ژاړی له پاسه کویله (۲) زغ کا، بېلتون له لاسه
په هغه لونی (۳) ګوهر په خول ستا (٤) د امرحبا کاستا، زموږ مواسه (٥)

د خلیل خان ددې رباعی په ځواب کی پښتون شهنشاه هغه رباعی ویلې ده، چه دمخه دده په احوال کی راغله. د خلیل خان نور آثار متأسفانه زموږ لاس ته ندی راغلی، او داسی ښکاری: چه د سلطان بهلول د دربار پښتون شاعر ؤ.

په لوړه رباعی کی خلیل خان په ډېر ښه صورت د خپل ممدوح ستاینه درجوع په صنعت کی کړېده، لومړی داوریځی ژړا او د کویلی د بېلتانه زغ بیانوی، بیا په دوهم بیت کی رجوع کوی، او دلومړی بیت مطالب نقض کوی، د ستاینی لپاره په بل رنګ هغه مقصد وائی.

---

(۱) حیات افغانی، ص ۲۹۸ (۲) کویله: په هند کی یو خوش آوازه مرغه دی
(۳) لونی: پاشی اونثاروی. (٤) پټه خزانه، ص ۷۷ (٥) مواس: محافظ اونګهدار

(۷) زرغون خان نورزی

د (۸۹۰ ه) حدود

نورزی د پښتنو یوه لویه طایفه ده ، چه په فراه او نوزاد او کدنی او هراوت کی اوسی ، او زرغون خان په دوی کی یولوی او جنګیالی او ادیب سړی تیر شوی دی.

دپټی خزانې مؤلف د دوست محمد کاکړ د غرغښت نامې په حواله لیکی ، چه زرغون خان اصلاً د نوزاد (زمین داور) ؤ ، او دقوم مشر توب ئې کاوه ، په دغو وختو کی چه دماوراءالنهر شیبانی خان پرهرات اوسیستان هجوم وکړ نوزرغون خان دوطن له مدافعینو څخه ګڼل کیدی ، او له متها جمینو سره ئې سختی جګړې کړی وې ، زرغون خان په (۸۹۱ ه) د هرات او خراسان او عراق (پارس) سفر وکړ ، او چه شیبانی خان پرسیستان راغی . نو زرغون خان دخپل قومه سره له وطنه دفاع کوله ، اوخپله آزادی ئې ساتله [۱]

داسی معلومیږی : چه زرغون خان یو ملی قاید ، او د وطن آزادیخواه مدافع او جنګیالی سړی ؤ ، علاوه پردغه دقلم او علم خاوند هم ؤ ، لکه د آزادی د جګړو وپرد ګرچه په میړانه دریدی ، دغسی هم دعلم اوادب په میدان کی پوخ شهسوار ؤ ، لکه پټه خزانه چه ددوست محمد کاکړ له روایته لیکی : زرغون خان خورا ډیر عمر ژوندی ؤ ، او دنهایت ضعف اوسپین زیر توب پروخت په (۹۲۱ه) دقندهار په دیراوت کی وفات شوی دی (۲)

دزرغون خان دیوان او اشعار :

زرغون خان دپښتو ژبی ښه شاعر ، اوددیوان خاوند دی ، چه دده دیوان په کجران (۳) کی په (۹۱۲ه) له ملاایوب یتمنی څخه ؤ ، او په دغه کال چه دوست محمد کاکړ هرات ته تیی ، هلته ئې دادیوان کتلی ؤ ، چه (۳۰۰) پاڼی ئې درلودې ، اودغه سړی

---

(۱) پټه خزانه ، ص ۸۱

(۲) پټه خزانه ، ص ۸۳

(۳) کجران ، دغور د جنوبی خوا کجوران یو تاریخی ځای دی ، چه د قندهار د دهراوت پر شمالی خوا تر اوسه هم په دغه نامه مشهور دی

پخپل کتاب « غرغښت نامه » کی له هغه دیوانه دادره یخ [مثنوی] رانقل کړیء دیء چه دپټی خزانې مؤلف هم له هغه کتابه را اخیستیء دیء [۱]

ساقی نامه

ساقی پاڅه پیاله را کړه — مر رر یا ر می پخلا کړه
اوبه تو ئی په لنبو کړه — او ر می مړ په دې اوبو کړه
پسر لی سو غنچه گل کا — ز لفی تا وی د سنبل کا
بلبلا ن شو رو فغا ی کا — کړېدن [۲] په گلستان کا
ز ا هد و زی صو معې څخه — شراب پیرې [۳] میخانې څخه
هر سړ ی په میو مست دیء — دې بهار کی گلپر ست دیء
په راغو کی سرې لمبې د ی — د غټو لو نند ا ر ې د ی
جهان ټول سوراو زر غون شو — وچ را غه ښکلی گلگون سو
سړ ی ټو ل شور و شغب کا — یا رانې کاندی طلب کا
بها ر و قت د یا را نې د یء — ښه مو سم د پیما نې د یء
نو ساقی پا څه بها ر د یء — نن ژوندون سبا رفتا ر دیء
د نیا پاته مو ږ بخو نه — تور وخاور و کی بیو ته
پیمانه ډ که له می کړه — بز م تو د په پیا پی کړه
چه یو د م سمه آ ز ا د — ناښاد دز ړه می سینه ښا د
ساقی پاڅه وقت د گل دی — په جوشش کی خم دمل د یء
وقت د میو د و یشو د یء — د پیا لو دډ کیدو د یء
هغه څوك اوس د پیغور دیء — چه ئې جام تش و نسکور دی
مستان گرزی په باغو کی — مستی کاندی په را غو کی
لاس په لاس دی یارانی کا — یو په بل ناز و نخرې کا
مجنون و صل له لیلا د یء — د جما ل په تما شا د یء
نه غمجن سته نه بېلتون سته — نه مهجور نه ځیگرخون سته

---

(۱) پټه خزانه . ص ۸۳ (۲) کړیدن : طواف او گردش (۳) پیری ، میخرد

ادبی نثر :

ځوان مرگ شپون

هو ماهم شپانه لیدلی دی !

مگر یوشپون می نه هېرېږی بلکه ترمابه ئې خپل کلیوال ښه پېژنی اودهغه ځوان د ژوند افسانې اوآخرنۍ لحظې به همیشه په سندرو کی ستائی کوم چه هغه دخپلی رمی په ساتنه او تربیت کښی هیڅ دریغ نه وکړی حتی دژوندون ترورو ستنی لمحو پوری پدې خدمت کښی ولاړوو څوچه دپاره دهمیشه ئې له دې غمناکی نړی څخه سترگی پټی کړی . نوهغه وخت دې ځوانمرگ څه کړی وای هو ملامت نه وو خود به تسلمېدی .

دغه ځلمی څله دټولو غلیمانو مبغوض اوپه یوه سلا دژوندون له صحنی نه وایستل شو ؟

داځکه چه نوموړی شپانه ډیرچالاك زړه وراود صحیح فکر خاوند ؤ ده غوښتل چه دا امانت په هیڅ ډول خیانت نه شی . هسی همتناك اوغښتلی ؤ چه په یواځی سرئې غلیمان ترټل او شړل، هیچا نه شوای کولای چه دده پررمه یرغل اوله هغه څخه غیرمشروع استفاده وکړی سربیره پردې ئی دخپلی رمی ساتنه اوتربیت په ښه ټوگه کاوه اوخپله رمه ئې مدام دیردوله یوغه ساتل بلکه ددې شپون له وجوده سره نور شپانه هم ویښ اودلاوره شوی وه نوهر کله چه ظالمانو خپله ورځ چپه او درزق کاسه نسکوره ولیدل . سمدلاسه پدې فکر کښی ولوېدل چه اصلی علت ددې قضې پیدا کړی پسله څه مدی ئې داقضیه کشف اودهغه دحل کولو په عزم کښی راووتل . هغه ووچه پسله ډیری مجاهدې دانامرده خو نخوا ران په خپل شوم مرام کښی بریالی شول .

کوم وخت چه رمی خپل بادار مړولید دوی هم خوښ شول مگر افسوس چه په دوی نه پوهېدله چه ددوی ژوند اومرگ هم ددغه ځوانه سره وو .

بل وخت چه زه له هغه کلی څخه تېرېدم یوڅه می را په زړه شوه پسله هغه می د کلی د خلقو څخه د ځلمی شپون پوښتنه وکړه پدې حال کښی چه له کیفیته څخه خبرشوم ما او کلیوالو ډېرماتم او دحسرت ډکی ژړاگانی وکړې ډېری اوښکی موتوئی اودهغه سپیڅلی مړی وروح ته وسپارلې .

بیانو وروسته د کلیوالو په لار ښوونه دنوموړی شهید وهدیری ته ولاړم ښه گړی ورته ولاړ دعاوی اودرود نه چه خلاص شول نومی سترگی دځلمی پرسور بیرغ اودشینغزیانو چه د قبرو سرته ولاړوه ولگېدې، بیرغ په ډېر تمکین رپېدی اودشینغزیانو له خوا چه دباد په سبب ښورېدل دغه راز آوازونه غوږ ته راتله :

ای زما عزیزانو ! ای هغه کسانو چه تاسی همیشه زماماتم کوی اویادوی می تاسی څله په ماپسی ژاړی، زه اوس آرام اومستریح یم اوله دنیا څخه چه می سترگی پټی شوې ټول ارمانونه می ترسره شول په دنیا کښی می ښه نوم یووړ اوپه آخرت کښی هم خدای ثوابونه راکړل .

په پای کښی می ددې حدیث شریف مفهوم رایه یاد شوو چه :

« ای خلقو اگاه وسی، چه - تاسی ټوله شپانه یاست مسئول او ساتندوی د خپل رعیت یاست » .

(غلام محی الدین ایوبی)

د کابل عمومي مطبعې کتنې چاپ شو